Ketabona | کتابونه
WWW.KETABONA.COM



# د مينې ليک

ناول

محمود مرهون

DIGITAL LIBRARY
WWW.KETABONA.COM

Ketabona | كتابونه
WWW.KETABONA.COM

بسم الله الرحمن الرحيم

@Ketabona
DOWNLOADED
WWW.KETABONA.COM
info@ketabona.com

## حقوق يې له خپروونکي ټولني سره دی !!

## دکتاب ځانګړني

| | |
|---|---|
| دکتاب نوم | ::د ميني ليک |
| ژباړن | ::محمود مرهون |
| | : ۰۷۰۰۳۸۷۸۱۵ |
| کمپوز ډيزاين | ::محمود مرهون |
| چاپکال | ::۱۳۸۷ لمريز کال |
| خپرونکي | ::سنځر خپرندويه ټولنه |
| | ::۰۷۹۹۲۷۸۲۱۳ |

# د مینې لیک

ژباړن:

محمود مرهون

عبدالغفور لیوال

**دوشنبه د عقرب شپږمه** ۱۳۸۷

**کابل**

**ګرانې ليونۍ!**

**په سلامونو دې لمانځم،**

**ښايي وپوښتې، چې دا ليک ولې در ته ليکم؟ ځکه له خپل زړه څخه په زړه کې ناست محبوب ته ليک ليکل له رسوايي پرته بل څه نه وي، خو اوس يې در ته وايم:**

**يوه ځوان دوست مې د نړيوالو عاشقانه ليکونو د ژباړو مجموعه را سپارلې ده، په هغې کې مې د نړۍ د مشهورو شخصيتونو د مينې ليکونه په خوږه پښتو ولوستل څو ډوله احساسات راته پيدا شول او چې احساساتو په سرواخيستم دا ليک مې پيل کړ.**

**تر همدې ورځې مې فکر کاوه چې د مينې ليک ډېر شخصي څېز وي مګر د ګران محمود مرهون له ژباړليو ليکونو پوه شوم چې د مينې په اړه بېلا بېل احساسات هم کله کله د يوه ښکلي شعر يا ادبي ليکنې په څېر ارزښت درلودلای شي. نو**

ځکه مې رخه راغله چې زما د مينې درد او ستا لپاره هغه ټوله ښکلا چې زما په سترګو کې پټه ده، د خلکو له نظره پټه پاتې شي.
ګرانې!
ژوند د فيلسوفانو د نظر په څېر پيچلی نه دی، له يو ځايه پيل کېږي او يو ځای پای ته رسېږي، لکه د شنو درو مزل، چې هره ښکلې څوکه يې د عشق يوه شنه خاطره وي.
زه او ته، يوه ورځ د ګڼوونو تر منځ څنګ په څنګ روان وو، تا مې پر اوږه سر ايښی او مادې له ملا لاس چاپير کړی، په فکرونو کې ډوب، د منې باد ستا د تورو زلفو څو تاره زما پر مخ خواره کړي وو، لاره په وچو سرو- ژېړو پاڼو پوښلې وه هر کله به چې زموږ تر ګامونو لاندې ددغو وچو پاڼو د ماتېدو غږ راته زه به زما او ستا تر منځ ژورې چوپتيا ته ځېر کېدم، ژوند لکه هماغه مزل چوپ دی، خو هاغسې خوږ نه دی د ژوند سکوت يا د مرګ بل نوم دی يا د دوو زړونو د يو ځای کېدو زيری.
هغه وخت چې خبرې يوازې په سترګو کې کېږي نو هيڅ قلم يې د ليکلو او کاغذ يې د وړلو توان نه لري.
ته پوهېږې!
عشق د ليکلو لپاره هېڅ نه لري، د همدې لپاره عشق نه تعريفېږي،هر چا مينه هغسې پېژندلې ده چې د خپل محبوب په سترګو کې يې لوستلې ده.

د مينې د ليکونو د ژباړو هغه کتاب چې زه يې ددغه ليک ليکلو ته اړ ايستم يو نوی سبک شو او زه پوه شوم چې هر چا ته خپله معشوقه تر ګردې نړۍ ښکلې او هر چا ته خپله مينه تر ټولو پاکه او سوزوونکې ده.
موږ کله چې زيږيږو تر هغه وخته چې مرو مينان يو، او هر څوک په دې خواږه حقيقت د اعتراف مېړانه، نه لري. موږ ولې د نورو عاشقانه ليکونه لولو؟ ددې لپاره چې د هغې مخاطب خپله پټه معشوقه ګڼو، او هر څوک چې ادعا کوي داسې مخاطب نه لري نو يا زړه نه لري ا يا دروغ وايي.

ښکلې!

يوه ورځ داسې هم راغله چې ستا لومړنی ليک مې تر لاسه کړ هغه د مينې ليک نه و، خو د هرې کليمې شاته يې د عشق يو خوږ اعتراف له ورايه نښېده، هغه ليک ددې لپاره نه وليکل شوی، چې يو څه افاده کړي، ددې لپاره هم نه و، چې له ما نه څه پټ کړي، بلکې داسې ليکل شوی و ،چې يوازې زه يې درک کړم او يوازې زه پرې وپوهېږم او همدا څه و، چې ما ته يې ستا د مينې زيری راکاوه. هغه وخت ته مساپره وې، له ما دې پوښتلي وو، چې نه غواړې بېرته راشې زه پوهېدم، چې تا زما د مړينې تر بريده اضطراب او ناکراري احساسوله او له ورايه دې غوښتل چې درته وليکم :

راشه – راشه او . . .

عشق په لیکونو کې نه شي تعریفېدای، په دغو لیکونو کې د نړۍ ستر رومانتیست ویکتورهوګو، لوی موزیسین بتهوون او نورو نوابغو خپل قلم ازمویلی، زه باور لرم چې موږ د هغوی له لیکونو څخه هغومره خوند او مانا نه شو اخیستلای څومره چې د لیکونو اصلي مخاطبانو «د لیکونکو معشوقو» ورڅخه اخیستل، او همداسې ده د عاشقانه لیکونو پټه لوبه.

له همدې لیکه د هرې کلیمې شاته پټ درد به یوازې ته احساس کړې او ستا د لیک د هر توري تر شا پرته ښکلا به یوازې زه ښکل کړم، ځکه دا زما او ستا مینه ده او په دې کې اغیار ته ځای نشته.

کله چې ستا لیک راغی، په کاغذ کې ستا د رغوی عطر یوازې ما وپېژاند او د ځینو کلماتو د لیکلو پرمهال ستاد قلم لړزیدل ما احساس کړل بل څوک پرې ونه پوهېدل او زه د لومړي ځل لپاره د خپلې پوهې پر لوړتیا و ویاړېدم او دا دی د عشق غرور.

ستا د لیک په پای کې یو نوم وران شوی و، پر هغه نوم ستا اوښکه څڅېدلې وه، هغه نوم به د چا و؟ ستا که زما؟ نه پوهېږم خو یوازې زه په دې وپوهېدم چې ستا له ښکلو سترګو بهېدلې اوښکه ولې پر همدې نوم څڅېدلې وه، دا نوم و «مینه» !

ستا اوښکې نه غوښتل چې دغه نوم دې تر ما را ورسېږي، هغه یې وران کړی و خو څومره ساده وه ستا اوښکه، هېڅکله په

دې نه پوهېده چې دا نوم يې څومره ځلولی و، ايا زه نه پوهېږم چې چاته د ليک ليکلو پر مهال ولې له سترګو اوښکه راځي؟ څومره خوږه رسوايي! نادانه اوښکه په دې څه پوهېږي؟

يوه سندره!

په ياد دې دي؟ زما او ستا په ګډه يوه سندره خوښېږي يوه بېړۍ د اوبو په منځ کې روانه ده د اوبو په منځ کې د نيلوفرو د ګلانو په کوځه کې لاروهي او پيغله غواړي ټوله له خپل مضطرب مين څخه ځار شي، غواړي د خپل معشوق ټول غم، درد او اضطراب په خپلو سترګو کې ور څخه غلا کړي يا يې په خپلو اوښکو ومنيځي . . . دا سندره زما او ستا خوښېده او، تا په هماغه لومړي ليک کې ددې سندرې څو کرښې راته ليکلې وې، هېڅ بل لوستونکی نه پرې پوهېده، باور لرم چې هغه دې يوازې ماته ليکلې وو، او همدغې ځانګړنې ستا د مينې د پټولو مخه نيوله څومره ښکلې تېروتنه!

عشق داسې دی لکه خوب او عاشقانه ليک داسې دی لکه د ليدلي خوب کيسه. د ليدلي خوب په کيسه بل څوک نه پوهېږي، او ما او تا چې ګډ خوب ليدلی ددغې کيسې په خوږو پوهېږو.

زما د همدې ليک په مانا به هم نور خلک نه پوهېږي، دا خوب ما ليدلی او دا خوب ما ستا لپاره ليدلی، که نور ورڅخه خوند نه شي اخيستلای زما يې پرې څه!

خو زه يې له هر کليمې او هرې شيبې خوند اخلم، زه همدا اوس له ځان سره دا تصور وينم چې ته يې په هر توري پوهېږې، ور ته سره کېږې، ور ته ومسېږې ،
ښايستو کې خندا وکړې او کله ښکلې – ښکلې وشرمېږې.
ځکه چې دا خوب ما ستا لپاره ليدلی او په کيسه يې زه او ته پوهېږو، دا خوب دې له نورو پټ وي.
او ته دې همداسې ښکلې وې

په مينه
ستا لېوال

مصطفی سالک

# څانګي!

زما د وجود پر کائیناتو د نغمو خورې ورې څانګي!
د ښایست سر او تال دي مات مه شه.

سپین سترګی مي ګڼې او که مطلبي ، بې وقوف درته ښکارم او که لیونی ستا خوښه ده، زه مجبوریم بلکي بیخي مجبوریم . ستا دي په خپلو نوراني سترګو قسم وي،ستا دي په خپلو وریښمینو سندرو قسم وي زما الفاظ یوځل ولوله،ایله یوځل،وایي چي روحونه لکه د وجود سر او تال جوړه پیدا کیږي.یو دبل مینه او تکمیل وي،خو فلک غمازي کوي.یو یې په یوه زمانه کي دنیا ته راشي او بل په بله کي،لیده کاته یې وه نسي،زندګي یې زندان شي او یوه ورځ یې د ژوند سقراط د اجل شراب وسکي،بیانو تر محشره په لحد

کي د زړه داغ د انتظار څراغ و ګرځوي بیابه څه کیږي (والله علم).

کله کله په یوه زمانه کي راشي،خو یو یې د مشرق شي او بل د مغرب،دا ټپه یې انځور دی:

چي د دیدن نصیب یې نه وي
په یوه کوڅه کي سره وړاندي وروسته شینه

خوکله کله زمانه زرینه پېرزوینه وکړي او دواړه روحونه د یو چم ګاونډ وګړي یې کړي،ادم او درخو له همدوی نه و.

ته زما له وجوده جداشوې څانګه یې،خداي(ج) ته وګوره نیمګړی مي مه پریږده،تکمیل راوبخښه،تر ځوابه مي د انتظار چاړه پر زړه خښه ګڼه.

غزن

# د مينې ليک

اې د ميني او لېونتوب ليکونو! اې د ځوانۍ او پاک لمنۍ ليکونو! تر اوسه ستاسو په ليدو لېونی کېږم او خوښي مي د خپل هوسناک وجود پر لوري وربولي. کله چي وغواړم يوځل بيا مو ولولم، پر ځنګنو مي لوېږم. ما ته يوځل بيا اجازه راکړئ چي هم هغه د خوښيو په کلونو کي واوسېږم او د هغو کلونو يوه ورځ د اوس په کال رانيسم. يو ځل مي پرېږدئ. هوښياران او پوه خلک په دې ښه پوهېږي چي زه څه وايم. پرې مي ږدئ چي يوځل خو پټ درسره وژړېږم .

(۱۷) کلن وم، بيلا بيلو خيالونو مي د خيال لمن نيولې وه، اميد په خپل ښايسته او نازولي ږغ ماته زيری راکاوه او زما نازک او بې خبره زړګي ته يې دوکه ورکوله. د ميني زړه وړونکي سپوږمۍ زما د زړه پر اسمان خپلي ښايسته او نازکي وړانګي شيندلې او زړه مي ستا له ښايسته نامه څخه پرته بل د هيڅ شي نوم تر خولې نه ايستی. زه هغه وخت تاته د مهربانه

خدای په څېر وم چې غوښتل مې د نړۍ ټولې خوښۍ ستا پښو ته دروغورځوم او تا د نړۍ ترټولو بختور څوک کړم. په هغه وخت کې زه یو سپېڅلی او تنکی ځوان وم چې نن مې له ټول غښتوالي سره د هغه ماشومتوب سره په جنګ یم. اې د خیالونو، فکرونو او خوږو چورتونو خوږو ورځو! اې د خوښۍ او توانمندۍ وختونه! اې هغو شپو چې د دوست او د ځیګر د ټوټې د لیدو په تمه تیرې سواست! اې هغو ورځو چې ژوندانه مې د نړۍ ټولې خوښۍ غوښتې او هغو ورځو چې زړه مې په سپېڅلې مینه پسې سرګردانه او لیونی ؤ. څه به وسي که یوځل بیا زما پر لورې راسې او زما د زړه مات سوی او درزې درزي ور چې په چغو چغو پرانیستل کیږي او بیر ته تړل کیږي، په ارامۍ سره د چغو وهلو څخه د تل لپاره بند کړې، یوه ښایسته موسکا پر ولوروې او د تل لپاره همدغه موسکا دلته پرېږدې. اې د ځوانی کلونو! مګر ما ستاسو سره څه کړي ول چې په دونه تیزۍ راڅخه په تېښته ولاړاست .

اې د خوښیو ورځو! زه نور نسم کولای ستاسو پر وزرونو کښېنم او دځوانۍ په پراخ او خوږ اسمان کې والوزم.

نو بیا ولي مي اندېښني راته ډېروئ او زما د ستر ګو په وړاندي دونه ښایسته ځئ او راځئ؟ هر کله چي په یوه سپېڅلې ښایسته او غوړه ورځ د تیرو خوږو خوږو وختونو په سپینو، ساده او سپېڅلو جامو کي چي زما د سپېڅلي او نازولي میني ښایسته او نازک یادونه یې په لاس کي وي او په خپل ښایسته او نازک وجود زما پر لوري په نازکو او پستو قدمونو ورو ورو راځي، زه یو ناڅاپه ځان د هغې پښو ته ور اچوم، څونه ترخې او سوځوونکي تودې اوښکي بهوم؟

مګر په دې وخت کي له یو سپین ټوکر څخه پر ته چي اوښکي مي پرې وچوم بل هیڅ نه وینم.

خو څنګه چي ځواني تېره سوې ده، نو ښه خو دا ده چي یادونه یې هم له ځانه لیري وشړم. پرېږدئ چي چي د خزان ناځوانه باد مي د ځوانۍ د پسرلي ښایسته او نازکي پاڼي چي نور یې ژوند پاي ته رسېدلی دی او مړې سوي دي، له ځانه سره د مرګوني افق پر لوري یوسي. په دې فاني نړۍ کي زموږ څخه هیڅ هم نه پاته کیږي مګر پر ته له هغه شهکارونو چي موږ یې له ځان څخه پرېږدو. اندیښنو لاسونه سره ورکړي دي او د یووالي سمبول یې جوړ کړی دی. موږ هم لکه بې ځایه خیال له دې فاني نړۍ څخه لکه د یو

**جسم له منځه تلونکې سایه وركيږو او له ازل څخه د ابد پر لور ګام بږدو.**

**په مينه**



# لمړی لیک

**(۱۸۲۰ـ جنوري) د یک شنبې شپه**

**زما ګراني او خوږې ادل!**

ستاخوږو او ښایسته خبرو مي روح او زړه دواړه بل ډول کړل او اندېښنې یې را څخه واخیستې.

ته هر کار چي و غواړې زما په زړه ئې و کړې، کولای یې سې او هو رښتیا! که چیري نه پوهیدای چي ستا اورنۍ مینه به مي په مړژوانده بدن کي ساه پو کي نو په ډیري خوښۍ سره به مي ځان د مرګ و ارامي او هوسا غیږي ته ور اچاوه.

نه پوهېږم نن شپه چي غواړم بیده سم د تیري شپې په پرتله څونه فرق لري. زما ګراني ادل! تېره شپه مي له خپلو ټولو نازکو هیلو او سپېڅلو ارمانونو سره چي د زړه په ګوټ ګوټ کي مي پټ دي، د تل لپاره مخه ښه وکړه او مرګ راته د خوښیو او خوشالیو ناوې ښکاریده مګر پر دې ټولو سر بېره مي له ځان سره وویل :-

که هغه په رښتیا راسره مینه نه لري او که د هغې د میني او مهربانۍ وړ نه یم، مګر زما خوښي چې دهغې هیله او ارزو ده!؟ زه باید ولي مرګ ته هرکلی ووایم؟ ایا زه باید ژوند یوازي د خپل ځان لپاره وکړم؟ نه، داسي نه ده، ځان مي، روح مي او ټول وجود مي د هغې په واک کي دی. زه په کوم جرئت او کوم زړه باید د هغې د میني غوښتونکی واوسم؟ ایا زه خدای یا کمه پرښته یم؟ دا سمه ده چي زه له هغې سره بې اندازې زیاته مینه لرم. غواړم چي خپله ټوله هستي مي تر هغې ځار او قربان کړم. په نړۍ کي داسي هیڅ نسته چي زه دي یې د هغې تر یوې موسکا یا هیلي ځار نکړم.

ولي زما د ژوند یوازنی ارمان هغه نه ده؟ ښه، نو که چیري هغې ته زما مینه ارزښت نه لري او په اړه مي هیڅ فکر نه کوي نو زه لا ولي ژوندی یم ؟ اوه، یاد مي سول، که هغه زما سره مینه نه لري دا د هغې ګناه نه ده دا زما ګناه ده ځکه زه د هغې د میني وړتیا نلرم. زما دنده او وظیفه دا ده چي په هر ډول کیږي او هرډول کولای سم هغې ته خوښي ور وبخښم، نیکمرغي ور په برخه کړم، روح مي د هغې و سختیو او تکلیفونو ته سپر کړم، سینه مي د هغې و بدبختیو ته ونیسم او سر مي د هغې په پښو کي کښېږدم. زما یوازنۍ خوښي دا ده چي هغه کله کله

د خپلو تکلیفونو په وخت کې پر ما د مرستې بږغ وکړي. ایا دا لازمي ده چې هغه مې د مرستې په مقابل کې مننه راڅخه وکړي.د؟ د هغې څه ګناه ده چې زه ورسره مینه لرم؟ ایا ادل هم مجبوره ده چې راسره مینه ولري؟ نه، هیڅکله نه. زه مې ځان ته هیڅکله دا حق نه ور کوم چې دا اسماني پرښته په دې مجبوره کړل سي. هغه کولای سي چې له ما څخه مې د لوبو اله جوړه کړي ځکه که د عمر تر پایه پوري دهغې او میني لپاره یې سرښندنه وکړم او ټوله شتمني د هغې په پښو کې و غورځوم، بیابه مي هم هغه څه چې باید کړي وای نه وي کړي. مګر نن شپه هم د تیري شپې په څېر خوب نلرم خو په دونه بدلون چې نن مې ډېره ستره نېکمرغي خوب ته نه پرېږدي او پرون ستري بدبختۍ نه پرېښوولم. نن مې د امید سترګي بیا د خوښۍ پر لور ځلیږي. ادل! ته ووایه ایا دا رښتیا ده چې راسره مینه لرې؟ ایا کولای سم چې په دې خواږه خیال ونازېږم او له ځان سره و مسیږم؟ ایا ګمان نه کوې چې زه دي له دې خوندور فکره چې ټول ژوند ستا په څنګ کې تیروم، لیونی نسم؟ ایا زه په دې ډاډه واوسم چې ته به راسره په ګډ ژوند کولو کي خوشاله ئې؟ ایا ته هم زما داسي نمانځنه کوې لکه څنګه چې زه ستا نمانځنه کوم؟

اه! نه پوهېږم چي ستاسو لیک زه څونه خوشاله کړم او نه پوهېږم چي د تیري شپې له خبرو مو چي څونه مو پرېږ خوشاله کړی یم، څنګه صفت وکړم. له تا ډېر مننددوی یم زما ګراني ادل! اې مهرباني پرښتې! غواړم چي په مخ کي دي څنګون کت کړم او مننه مو وکړم. خداي(ج) دي مل سه! غواړم چي سترګي مي بندي کړم او د خوږو خیالونو په سپېڅلې غیږه کي شپه په خوښۍ سهار کړم. نور نو ته هم د خوب سپېڅلي پرښتې ته اجازه ورکړه او ښایستې سترګي دي د خوب په نیت پټي کړه.

**ویکټور هوګو**



# دوهم لیک

**دوشنبه(۲۸-فبروري)**

**زما ګراني ادل! که چیري مي تېره شپه ستاسو په غوښتنه کار کړی وای او هغه لیک مي بیرته تاته درکړی وای کوم چي زه یې ډېر پرېشانه کړی وم، خو په عین حال کي رته ډیر په زړه پوري هم و ځکه له لوستلو یې پوه سم چي راسره مینه لرې، نو ډیر به نفستنګی سوی وای. په ډیري خوښۍ سره اقرار کوم چي ټولي سهوي او خطاوي زما دي او په ډیري پښېماني بخښنه درڅخه غواړم. زه باید هیڅکله تا ونه غندم ځکه چي یوازنی ځوک یم چي د زړه له تله مو باید نمانځنه وکړم او پر دې ټولو سر بېره تاسو باید ما هر کله له خپلو نوو بریالیتوبونو او پرمختګونو څخه خبر کړئ او خپلي هیلي او ارزوګاني مو را سره شریکي کړئ. مګر له تاڅخه یوه ګیله هم لرم. پوهېږم له نڅا سره دي ډېره مینه ده ځکه په وار وار دي**

راته ویلي دي چې له (والس) سره ډېره مینه لرې نو بیا ولې نه ناځې؟ څو ځله درڅخه غوښتنه سوې ده؟

تېروتنه مه کوه. وینې چې ما ستاسو په خاطر له میلو،جشنونو،نڅاوو او شپې ناستو څخه سترګې پټې کړې دي؟ دا په دې خاطر نه چې زه ځان ښندنه کوم. دا ماته هیڅ خوند نه راکوي او ځان ښندنه خو هغه وخت وي چې څوک له یوشي سره مینه ولري مګر زما خوښي هغه وخت وي چې تا په خپل څنګ کې وینم او داچې نڅا تا ته د ژوند د خوښیو ترټولو ښه خوښي دربخښي نو تا یوه لویه ځان ښندنه کړې ده. زه مو له ښه سلوک او نېک کردار څخه ډېر مننندوی یم مګر هیڅکله مې دا هیله نلرله چې ته دې زما له لاسه پر ځان دونه غټ ظلم وکړې. دا رښتیا ده چې زه نه غواړم تا دبل چا په غیږ کې ووینم او په دې ډېر ځوریږم مګر زه مې بیا هم ځان ته دونه اجازه نه ورکوم چې ستا خوښي مې د ځان په خاطر درڅخه واخلم ځکه که چیرې زما په زړه کې ستاسو په څېر له یو بل څه سره مینه وای، تاسو به هیڅکله زه له هغه څخه نه وای را ګرځولی. بیانو ولې ځان په تکلیف کوې! ولاړه سه و ناڅه! ځان خوښ وساته مګر هرځای چې ئې،ما او زموږ ترمنځ رښتنې مینه مه هېروه! کېدای سي چې تر ما ښایسته ،باتجربه او ښه نڅېدونکي ځوانان ووینې مګر په

پوره جرئت ویلای سم چي یو به يې هم تاته زما په ځېر سپېڅلې او پاکه مینه در نکړي. نه غواړم چي تاسو مي د زړه له پټو اندېښنو څخه خبر کړم ځکه چي هغوی پای نه لري او له ډېر وخت راهیسي کله چي تا خوښ خوشاله ووینم، هغوی ټولي مي هیري سي. چي ستړې دي نه کړم؟.خدای(ج) دي مل سه! زما څخه څه مه پټوه. ما په خوله یا په لیکلې توګه خبروه. ماته دعا وکړه چي خدای(ج) ماته کامیابي،خوشالي،توان او صبر راکړي چي ستا د نه لیدو په وخت کي خسته نه سم. هیله مند یم چي دا لیک دربانديي و نه غمیږي. کله چي له ځانه سره فکر وکړم چي ته به زما سې نو خوښي مي د خپل ټول ښایسته وجود سره دمغزو پر کور برید کوي. زما درنې ادل! ته رښتیا هم زما يې؟ که څه هم چي ډېر لوی مشکلات مي مخ ته لکه لوی غرونه ولاړ دي او زما پټه راتلونکې يې لا راته پټه کړې ده مګر بیا هم غواړم لکه اوم شارل په چغو چغو او په لوی زړه دا ووایم: ((خدای(ج)په خپل لوی ذات هغه ماته ډالۍ کړې ده او اهریمن زما څخه د هغې د اخیستلو توان نلري ))

هې! چي خفه نسې. ځه خدای(ج) دي مل سه!

((ستاسو وفادار ویکټور))

# دریم لیک

**(۲۸_مارچ)**

**زما نازنيني ادل! راځخه غوښتي دي وه چي يو ځو توري درته وليکم. اخير څه غواړې چي درته و يې ليکم؟ ايا د ميني يوه داسي کليمه سته چي ما دي تر زرځله کمه درته ويلې او يا ليکلې وي؟ ايا غواړې چي يوځل بيا په چغو چغو ووايم چي درسره مينه لرم؟ مګر ته په دې نه پوهيږې چي د زړه خبره هيڅکله پر خوله نه راځي؟ که چيري درته ووايم ترځان او روح مي زيات درسره مينه لرم، کومه نوې خبره به مي نه وي کړې. ته په دې ښه پوهيږې چي زه مي ژوند او روح ته ترتا زيات اهميت نه ورکوم. څوځله درته ووايم چي کچيري مي ته ترټولو ستره نه بللای، هيڅکله به مي زړه په دونه آسانی سره تاته نه درکولای او روح او ژوند به مي په دونه**

بېخارۍ سره تر تا نه جارولای. له همدې کبله به دي تل لمانځم. که له ما څخه کومه سهوه کیږي نو هیله لرم چي تاسو به زما له سهوي څخه ځکه نه خفه کېږئ چي په ساده توب اوپاکۍ مي ښه خبر یاست. زه مي ځان ستاسو څښتن بولم او یوازنی ځوک چي کوای سي ما له دې ستر نعمت څخه بې برخي کړي، تاسو یاست. تاسو په رښتیا هم ډېر مهربانه یاست. ستاسو ګاونډیان خو به مو نه ځوروي؟ هیله کوم چي له هرڅه چي درپیښیږي، خبر مې کړئ. زړه مي غواړي چي ټول هغه څه چي ستاسو لپاره مي له وسه کیږي، تر سره یې کړم. ته پوهیږې چي زه مو په زړه کي تاسوته څونه هیلي او ارزوګاني لرم؟ او ها، که چیري زه یوه ورځ ستاسو څښتن سم او که چیري یوه ورځ ستاسو سره په څنګ کي واوسېږم، په سبا یې زه په خوښۍ سره تیار یم چي له دې نړۍ څخه سترګي پټي کړم او بلي نړۍ ته ولاړ سم. څوک د دې حق نلري چي په ماپسي چوک وکړي ځکه چي یوه د خوښۍ ورځ د ټول ژوند سره هم نه سموم او تر ټول ژوند یې لویه بولم .

اې زما درنې محبوبې! ستاسو په اړه مي فکر کاوه ځکه زه مو په اړه ډیر چورت وهم. ته پوهیږې چي څونه مینه درسره لرم ؟ هیڅ داسي کار نسته چي زه یې ستاسو لپاره وه نه کړای سم. په پرله پسې توګه کوښښ

کوم چي د ژوند کولو لپاره ښه پوره تياری ونيسم نو له دې کبله هيله کوم چي مينه مو راڅخه و نه درېغوئ. غوښتل مي چي يوه بله خبره درته وکړم. ته بايد په دې خبره واوسې چي نور تا خلګ د جنرال هوګو د ملګري په توګه پېژني، نو بايد کوم داسي کار ونکړې چي خلګ يې درڅخه تمه نه لري. چاته اجازه مه ورکوه چي نوم دي په سپکه واخلي او يا په بدو سترګو درته و ګوري. کېدای سي چي ته دا فکر وکړې چي زه مي د پلار د لوړي رتبې په خاطر ډير مغرور يم مګر خدای(ج)شاهد دی چي زه ستاسو له ميني پرته بل هيڅ شي ته ارزښت نه ورکوم او په دې نازيږم چي ته راسره مينه لرې.

**دخداي(ج) پامان**



# څلورم ليک

**(۲۶_اپريل)**

ادل! ياد دي دي چي نن له هغه ورځي چي زما برخليک ښکاره سو يو کال تيريږي؟

د(۱۸۱۹)کال د اپريل د مياشتي (۲٦) ماښام و چي د يوبل څنګ ته ناست مو يو بل ته د زړه راز ووايه.

څنګه چي ما مي په کمزوري زړه تاته زما بې انتها مينه درښکاره کړه، تا هم په ډيري سادګۍ سره په خپله سينه کي د پټي ميني څخه پرده پورته کړه. رښتيا، زه په هغه ورځ د زمري په څېر زړور سوم. زړه مي ډېر ارام سو. داسي فکر مي کاوه چي د ټولي نړۍ پاچهي زما ده ځکه چي دا مي احساس کړه چي په دې نړۍ کي يو داسي څوک سته چي زما له دې خوار وجود سره مينه کوي. اوه رښتا، ستا دي په خداى(ج) قسم وي، رښتيا راته ووايه چي تا خو به هغه شپه هېره کړې نه وي. راته وواياست چي تاسو هغه شپه نه ده هيره کړې ځکه زما غم، خوښي او هرڅه له هغې شپې پيل سوي

دي. زما ګراني ادل! اوس له هغې ښايسته او زريني شپې چې درست کائنات زموږ سره په خوښۍ کي نڅېدل، يو کال تېر سوی دی مګر په دې لږ وخت کي مي ډېر تکليفونه وليدل. پرېږده چې نن هغه راز چې هيڅچا ته مي يې د ويلو زړه نه کاوه، ته و وايم.

ادل! کله چې زموږ کورنۍ په دې خبري سوې چې زه او ته له يو بل سره مينه لرو نو پر دې خبره فيصله وسوه چې زه او ته بايد يو له بله سره و نه وينو. زه به ستا په فکر په دې خبره څونه خوابدی سوی يم؟ په ډېر تلوار مي خپلي خوني ته ولاړم او په تنهايۍ کي مي له ځانه سره په هڅ هڅ وژړل. لمړی مي فکر وکړ چې بايد د مرګ آرامي غيږي ته پناه يوسم مګر ستاسو ښايسته او نازنينه څېره مي مخي ته راغله، بير ته مي له ځانه سره فکر وکړ چې نه، زه بايد ستا لپاره ژوندی و اوسم. په دې وخت کي مي پر خپلي بدمرغۍ ښه ډېر وژړل ځکه ما ته ستاڅخه ليري او ستاڅخه پر ته ژوند له يوه ترخه مرګ څخه پر ته بل څه نه ؤ. له هغې ورځې چې څه کوم، چيري ځم او چيري ګورم، يوازي ستاسو څېره ده چې د سترګو وړاندي مي دوري هوري کيږي او يوه د قيقه هم نسم کولای چې له ياده مو وباسم. هيله مند يم چې په هغه څه چې په دې ليک کي يې لولئ، خپه نسئ. ډېر زيات

خوشاله کیږم که ته هم خپل ټول هغه رازونه چي په زړه کي يې لرې، راته بې پردې کړې ځکه زموږ له ميني يو کال تيرېږي، نو هيڅ امکان نه لري چي دا درست کال دي پر ته له کومي خوښۍ او غمه تېر سوی وي.

نن سهار مي درسره د خبرو کولو زړه ځکه ونکړ چي تاسو تر (۲۸)نېټې اجازه نه ده راکړې چي خبري درسره وکړم. پوهيږې چي دې نوي فرمان مو څونه په زحمت کړی وم؟ مګر بيا مي هم ونه غوښتل چي ستاسو خبره در ماته کړم او له امره مو سر غړونه وکړم.

شپه تر نيمايي اوښتې ده. ته به ښايي په خپلو نازنينو خوبونو کي پر کومو غرونو او رغونو ګرځيې مګر ستا بېچاره مين ځان ته د خيال وزرونه جوړ کړي او ستا د ميني په اسمان کي الوت کوي، تر تا ځان در رسوي او کله چي تا په نازنين خوب کي موسکۍ ويني نو په ډېر ډاډ او سکون سره دې پاسته او وريښمين وريښتان د ميني په سپيڅلتيا ښکلوي او در ته د تل پاتي ژوندانه دعا کوي.

خدای دي ساتندوی سه!!

ويکټور

# پنځم لیک

اې زما نازنیني ادل! کولای سې چې راڅخه ناراضه واوسې. زه ټوله اونۍ ډېر سرسام وم ځکه د هغي خوندوري شپې ښایستو او خوندورو خیالونو او یادونو مي هرڅه راڅخه هېر کړي ول .

هغي شپې ته ډیره ښایسته شپه وایم مګر له دې ستایني څخه ډېر په زحمت کیږم هم او د کینې اور مي سوځوي. ما نه غوښتل چې ته دي دونه ښایسته کمیس زما څخه پرته د بل چا لپاره واغوندې او زما نه خوښیږي چي نور خلګ دي ستا له ښایست څخه خوند واخلي .

وینې؟ داسي لړزې اخیستی یم . مه راباندي خانده. که چیري راباندي خاندې، دا د دې پخلی کوي چي هغونه مینه چي زه ستا سره لرم، ته یې زما سره نلرې. کله چي تا د نورو په مخ کي دونه ښایسته او فیشن سوې وینم، ته په دې نه پوهیږي چي په ما څه کیږي؟ یو ډول کینه مي له ټولي نړۍ سره پیدا کیږي چي تاته په حسرت

حسرت ګوري او ته په دې نه پوهېږې چي څونه بې مانا خیالونه او بې ځایه اندیښنې مي د مغزو میلمنې کیږي. زه تر هغو ټولو ځوانانو چي ډېر ښایسته نڅیږي، بیخي کوچنی او ان هیڅ یم . له بله اړخه ستا سادګي او د هغوی په اړه بې پروایي هغه څه دي چي زړه مي را آراموي او ټول شکونه او ویري مي بېځایه ثابتوي. ته پوهیږې، کله چي ښایست او سادګي په یوه وجود کي یوځای کیږي، دا په حقیقت کي د ستر ذات یوه ډیره لویه کرشمه او معجزه وي. پوهیږې، ستا راکښون او جالبوالی په څه کي دی؟ د دې یوازنی لامل ستا سادګي او سپېڅلتیا ده. زما نازنیني ادل! دا د پرښتو صفت او پاک لمني تل درسره وساته ځکه له دې څخه پر ته د روح سپېڅلتیا او د میني پاکي له منځه ځي. د ځان په اړه دي داسي فکر وکړه چي ته د ښکلا، حیا ،سپېڅلتیا، سادګی او وفا یوه غوره نمونه ئې. ځکه ما ته د دې نړۍ په سر یوازنی ښځه د ځان لپاره غوره کړې یې او غواړم چي ټول ژوند مي ستا سره په څنګ کي تېر کړم چي زه په ډیري هوسایې سره دا خویونه په تا کي وینم .

دا کرښي چي لولې، بېهوده کرښي یې مه بوله. د ځان خیال دي ساته. ته ګوره، له کومه راهیسي چي ما مي خپل ځان پېژندلی دی، زه په دې پوه سوی یم چي تاسو

مي په زړه کي ځونه ځای لرئ. ته فکر وکړه، ددې لپاره چي دا په ډاګه کړم چي ستاسو وړ یم او کولای سم چي ټول ژوند مي ستاسو په څنګ کي تېر کړم، ماڅه کړي دي، څه کوم او څه غواړم چي وئې کړم؟

ته به په دې څه وخت پوه سې چي ځونه مینه در سره لرم؟ زما ګراني ادل! کله چي دا را یادوم چي در سره نڅېدلم، په غېږ کي به مي نیولې، خپلي سینې ته به مي رانږدې کولې او له ځانه به پردی کېدم نو روحاً ارامېږم او ځان د نړۍ د سر تر ټولو خوښ سړی بولم. رښتیا، زه او ته ولي باید جلا واوسو؟ څه کیږي چي ته د ژوندانه تر پایه زما په غېږه کي په ناز ناز خوبونه وکړې؟ موږ خو کومه ګناه نه کوو.

ادل! هیله کوم چي راته ووایاست. پر دې به ځوک بد وایې چي یو خاوند دي خپله مېرمنه له خپلي سینې سره جوخته نیسي.

دا د خوښۍ وختونه ولي تیریږي؟ عجبه ده. دا وختونه له درستي نړۍ څخه تیریږي. دې ته نه د عقل بندونه لویږي نه د زور. ته دې خوښۍ ته ګوره! د نړۍ د ښتمن او زور ور کس تر څنګ په بېخارۍ سره په خندا خندا تیریږي مګر تر اوسه داسي کوم ځواک نه دی پیدا سوی چي دوی دي را وګرځوي. رښتیا، دا خوښي چیري

درومي؟ ددې کوم کور یا ځای چاته معلوم دی؟ په دې نړۍ کې به کوم داسي څوک وي چي تښتېدلې خوښي دي بیرته راستنه کړي؟

وینې، چي له شکایتونو پرته مي له خولې بل څه نه راوځي. پوهیږم چي خوښۍ او نیکمرغۍ مي ستا په لاس کي دي، نو هیله کوم چي ماته مي خوښي او نیکمرغي بیرته راکړې. هیله کوم چي لیونتوبونه مي و بخښې. خدای(ج) دي مل سه! زه بینوا او وارخطا یم. زړه مي مه زهیروه. مینه راسره وکړه. روح او ژوند مي ستا دي.

وینې، چي تر هغه مي اوږد لیک چي تا غوښتی وو، درته ولیکی. که مي له دې کاره خوښه سوې ئې نو ته هم ماته همداسي لوی لیک ولیکه .

خدای(ج) دي مل سه ،ته وا دا اوږد لیک به تر پایه ولوستلای سې که څنګه؟.



# اتم لیک

(جمعه- (۹) اګست)

اي زما درنې محبوبې! وخت ييخي لږ دی. شپږو بجو ته یو څه وخت پاته دی. ما مي ماښامنۍ خوړلې ده. ورځ مي په خورا زړه تنګۍ تېره کړې ده. هر څونه کوښښ چې مي وکړی څو ژر یو لیک درته ولیکم، و نه توانیدم. هیله کوم چې یو څه مي تشویق کړې. زه نور نسم کولای چې ستا څخه لیري والی وزغمم. نږدې ده چې د صبر او زغم لمن مي له لاسه ایله سي. نو هیله کوم چې یو څه ډاډ راکړې او تشویق مي کړې.له تیرو دریو میاشتو څخه زه پوه سوی یم چې ژوند څه شی دی مګر اوس باید چې څه وختونه په زحمت او تکلیف تېر کړم ځکه چې ستا څخه لیري یم مګر کله چې یو کال تر مخه وختونه را یاد کړم نو د هغه وخت خوښۍ مي و ستر ګو ته جګې ودریږي او را یادیږي مي چې په ارکو او بورک لارن کي به ګرځیدلو.زه د هغه وختونو په اړه فکر کوم چې په کوچنۍ پاروهونکې کښتۍ کي به ګرځیدو او ما به د هغي کوچنۍ کښتۍ په چلولو چې ته به پکښي سپره وې، ځان د

نږۍ د ټولو ییږۍ چلوونکو استاد احساساوه او فکر مي کاوه چي د ټولي نړۍ چلوونکی زه یم. زه تل د هغو سهارونو په یاد را ویښیږم کوم چي ستا سره په سترګو کېدو به پیل کېدل. کله چي مي دغه ښایسته او نازولي یادونه د مغزو د یاد د خوني ور په خپلو نازکو لاسو په ناز ناز ټکوي نو ځان مي په ځان کي په چغو چغو ناري وهي چي ته څه سوې، ته ولي زما څخه جلا سوې او ولي زما څخه لیري ولاړې. زه دي یوازي ولي پرېښودم مګر ییر ته مي د امید ناوې په مخ کي ودریږي او راته وایې چي د هر غم په پای کي خوښي سته، لکه د هر شپې پسې چي سهار راځي او زه یو ځل بیا حسوم چي زه یو څوک یم.ادل! خدای دي هغه وخت ژر راولي چي موږ ګډ ژوند پیل کړو. بخښنه غواړم چي وایم (موږ) ځکه زه د ر څخه د میني تمه لرم نو ځکه وایم. رښتیا، هغه به څنګه وخت وي چي موږ د تل لپاره د یو او بل سو او ګډ ژوند پیل کړو، هو رښتیا، موږ به څنګه ژوند کوو؟

ادل! غواړم چي د عمر شل کلونه مي په دوو هغه میاشتو بدل کړم چي ما نور هم لوی کړي او ستا سره د یو ځای کېدلو جوګه سم خدای(ج) دي مل سه زما درنې پرښتې.

له همدې ځایه دي مچوم.

((ستا وفادار ویکټور))

# نهم لیک

(جمعه- (۱۴) اکتوبر)

زما نازنیني ادل! زه کله کله فکر کوم چي زموږ نیکبختي څونه نږدې ده او له دې وروسته به هیڅ شی زموږ د لیري والي سبب نسي. فکر کوم چي ژوند ډېر ښه دی او کله کله خو فکر کوم چي زه دا هرڅه خوب وینم. کله کله مي تیر دوه کلونه او یو کال له هغه مخکي را په یاد کړم او له ځانه سره فکر کوم چي زه هغه وخت څونه بدبخته وم او نن څونه نیکبخته یم.

کله کله په زحمت سره هغه وختونه را یادوم چي ستا په مازي لیدو به مي ځان خوښ ساتی او هغه وختونه کله چي به مي ته په کوڅه کي د ګرځېدو او راګرځېدو په حال لیدلې. رښتیا، هغه لمن چي تا به اغوسته، زما ډېره خوښېده او رښتیا، هغه وخت به زما تر ټولو ستره نیکمرغي په دې کي وه چي ته به مي څو لحظې ولیدې. کومه ورځ چي به مي په وېره او لړزه ستا سره د دوو خبرو جرئت وکړ نو په هغه ورځ به

مي ځان د نړۍ تر سترو امپراطورانو هم ستر باله او دا خوښۍ مي هم ډېري لږ په لاس راتلې.

څونه د خوښۍ ځای دی! دا ټولي خبري تیري سوي دي. په راتلونکي کي به څونه خوښۍ لرم؟ اوس هیڅ شی او هیڅ څوک نسي کولای چي موږ له یو بل څخه جلا کړي. هیڅوک نسي کولای چي زموږ د میني او زموږ د یو بل نازوني مخه دي ونیسي. زه بیا بیا دا وایم چي زه رښتیا هم ډېر نیکمرغه یم او ما تر اوسه دونه ښه کار نه دی کړی چي زه دي د دونه نیکمرغۍ وړ وګرځم. میني مي زړه او حواس راڅخه خپل کړي دي او نه پوهېږم چي څنګه مي خپل احساسات درته بیان کړم ځکه هغه څه چي زه حسوم، د هغوی لپاره زه لفظونه نه لرم او هغه په دغه کوچنۍ ژبه چي زه ئې لرم نه بیانیږي ځکه هغه یوازي احساس دی او داسي یو احساس چي څوک یې حسوي، بیانولای یې نسي. دا داسي څه هم نه دي چي زه یې په قلم ولیکم. زما درنې ادل! که په رښتیا هم راسره مینه لرې نو له خپل زړه دي په دې اړه و پوښته. خپله به پوهه سې.

اې نازنیني پرښتې! زما او ستا مینه د دې لپاره یوه ښه نمونه ده چي دا ښکاره کړې چي تل غوښتنه په خپل ذات کي یوه لاسته راوړنه ده.په څو میاشتو کي زه په دې وه توانېدلم چي د نیکمرغۍ په لار کي هغه غټې ډبري چي و

نیکمرغی ته یې زما د رسېدو لاره ډب کړې وه، له لاري ليري کړم .هغه څوک چي ستا په څېر پرښتې سره مینه ولري او په دې هم پوه سي چي ته هم مینه ورسره لرې، هغه ته به په نړۍ کي داسي څه وي چي ستا لپاره یې ونسي کولای؟.

زما نازولي پرښتې! خدای(ج) دي مل سه! ستا نېکمرغه دوست دي مچوي او په فکر کي دی چي ته به څنګه شپه تیر وې او اوس به څنګه یې؟

ويکتور



## ۱۵/مارچ/۱۸۲۲

د تیري ورځي د ښایسته سهار او یوه ورځ مخکي له پروني سهاره او د براهي ښایسته ماخستن څخه وروسته نن له کوره نه وځم او ارومرو یوڅه درته لیکم. پر دې سربېره زما ښایستې ادل! زما نازنیني ادل! څه خو نه لرم چي درته و یې لیکم.

خداي دي نه کوي، دا دوې ورځي کیږي چي په دې چورتونو کي یم چي داسي نه وي چي زموږ دا نیکمرغي لنډمهاله وي او هر څه مو تالا ترغی سي.زه فکر کوم چي زما دا د نیکرمرغۍ احساس مځکنی نه دی.ځکه چي زه دا ملکوتي احساس تر اوسه نسم درک کولای. زما ادل! ته تر اوسه په دې نه پوهېږې چي ما مي ځان څه شي ته تسلیم کړی دی مګر عجبه دا ده چي ایا زه خپله پوهېږم؟ کله چي کمزوری وم، فکر مي کاوه چي ځان مي ارام کړی دی. څنګه چي مي ځان نا امیدۍ ته سپارلی ؤ، فکر مي کاوه چي زه باشهامته یم مګر په اصل کي مي ځان تسلیم کړی ؤ .اه ... پرې مي بږده چي ځان مي د یوې خاشې په څیر ستا په پښو کي چي دونه مهربانه او سپیڅلې یې، در واچوم. ما فکر کاوه چي د ځان او شتمني په له لاسه ورکولو به هم تا خپله نه کړم مګر تا –زما سخاوتمندي پرښتې! –خپل هرڅه تر ما قربان کړل .

ادل! ایا پوهیږې چې ستا ویکټور تیري اته ورځې په څونه زحمت او تکلیف تیرې کړې دي.

له ځان سره مې فکر کاوه، که چیرې مې د پلار لیک د امید لمن په غوټه تو ګه زما له لاسه خطا کړې نو یو څه پیسې به پیدا کوم او له تا سره به د فرانسې تر پولې اوړم، یو داسې ځای ته به په ګډه ځو چې چیرې زموږ د ژوند کولو لپاره هرڅه تیار وي، داسې څوک نه وي چې زموږ د دوستۍ مخه ډب کړي او کله چې زه او ته د فرانسې له پولې د یوه میړه او میرمنې په نوم واوړو نو په یوه داسې ځای کې به استوګن کیږو چې د هیڅ چا لاس موږ ته نه رسیږي. ورځ به په یوه کوچنۍ کښتۍ کې په شنو اوبو کې ګرځو را ګرځو او د ستر ښتن له ښایسته تخلیق او لاهوتي نړۍ څخه به خوندونه اخلو او شپه به د یو څپره لاندې له ټولې نړۍ څخه جلا د پاک خدای(ج) تر ښایسته او شینکي، مهربانه او مینه ناک اسمان لاندې د یو بل په غیږ کې د لافاني نړۍ په هیله او خیالونو سبا کوو او څنګه چې نن مو پرون کړی، هم هغسې به سبانن کو.

مګر زما سپیڅلې ادل! فکر و نه کړې چې زه له دې ټولو نیکمرغیو سؤاستفاده کوم. البته ته به هم ښایي دا ډول بې مانا فکرونه نه کوې چې په سبب یې زه ځان ستا په وړاندې کوچنی حس کړم.

ادل ..ادل! زما ځخه نفرت مه کوه. ما مه تحقیروه. زه ولي دونه کمزوري یم او ته ولي دونه عالیقدره ئې؟ ته یوازي یوځل زما د خوښیو زما د ارمانونو او زما د یوازي والي په اړه او زما د پلار د ځواب په اړه فکر وکه. ته هغه نجلۍ یې کومه چي زه فکر کوم که یې له پریښتې سره تشبیه کړم نو یا به له هغې سره په تول پوره راخیژي یابه پر درنه وي. ستر خالق ته د خلقت له هره اړخه پوره کړې ئې ځکه ته هم تحمل کوونکې او صابره یې او هم ده یوه داسي نازک زړه ځښتنه چي په ډېره وړه خبره ډیر ژر پخلا او هم ډیر ژر خوابدې کېږې. اه زما سپیځلي ادل! زما دا خبري کوم ساده الفاظ مه بوله بلکي ستا د میني لمبې په حقیقت کي له یوې ورځي ځخه بلي ورځي ته زما په زړه کي ډیریږي او زه له هغه ورځي بیریږم چي خدای مکړه ته به مي یوازي پرېږدې. زما زړه به د دې زور ور اور له کبله ایره ایره سي.

زه مي له ټولي هستی سره سره ستایم. که چیري زما ټوله هستي ستانه وای نو تر اوسه به زه پر همدې حالت نه وای پاته او وخت به لا له منځه تللی وای .

زه به لا په دې فکرونو کي وم– زما ګراني ادل!–

چي لیک یې راته راوړ. هغه لیک چي خوښي او یا به یې برعکس خپګان را په برخه کاوه .که چیري په رښتیا مینه را سره لرې نو ارومرو به پوهېږې چي څونه به خوشاله سوی

یم. په هغه څه چي زه پوهیږم ښایي چي تا به هغه احساس کړي وي نو ځکه یې له تشریح تېرېږم .

ادل! موږ له خوښۍ پر ته دې احساس ته کوم بل نوم ولي نه لرو؟ ایا له دې کلیمې پر ته موږ بله تر دې ښایسته کلیمه نه لرو چي ددې ښایسته احساس لپاره یې و کاره وو؟

یو داسي ناڅاپه خوښۍ زه له خپل طبعي حالته ایستلی یم او تر دې دقیقې چي لیک در ته لیکم، د خوښۍ له لاسه په ځان نه پوهېږم. کله چي مي په فکر کي را ګرځي چي دا خو به خوب نه وي، نو له ډېري ویري و رېږدېږم .

اوه ..ته اوس زما ئې. بالاخره ته زما سوې، په ډېره چټکۍ، بیخي د څو میاشتو په اوږدو کي او په ډېره چټکۍ سره. ښایي زما سپیڅلې پرښته زما د غیږي میلمنه سي، په خپل دې کور کي د ناز خو بونه پیل کړي او په ناز ناز په یوه ښایسته زمزمه له خوبه وپاځي ، له نن څخه وروسته به د هغې ټول خیالونه،خوښي خوشالي، د هغې موسکا او خندا ټول زما سي. زما درنې ادل! له نن څخه وروسته به زما ټول وخت، زما هستي او نیستي، زما خندا او موسکا، زما ژوند او مرګ ټول ستا وي او سر له اوسه څخه ته په ما اړه لرې او زه په تا.

زما درنې ادل! ما به خداي(ج) ته څونه زارۍ نه وي کړي چي تا زما د روح او وجود په بدل کي ماته را کړي؟

اه، زه څونه نیکمرغه یم. خدای(ج) ماته څونه نیکمرغي را په برخه کړه. خدای (ج) دي مل سه! زما درنې پرښتې ادل! وریښتان دي ښکلوم او خپل کټ ته خیژم. که څه هم درڅخه لیري یم مګر په خوب کي خو دي لیدلای سم. ښایي ډیر ژر مي څنګ ته راسې. خدای(ج) دي مل سه! ستا څښتن، چي ډیر ژر به دي په غېږه کي ونیسي، چي ستا د اخیرت او دنیا دواړو خیر غواړي .

ستا ویکتور

په تېره يوه پيړۍ کې
د نړۍ له (۱۸۰۰۰)د مينې له ليکونو څخه

# ژوليت

**دوشنبه ۱۲ بجې**

**ستا ډېر منندوی یم. اې زما معبوده! زما ښايستې شهزادګۍ! زما هرڅه! زما د ستر ګو رڼا!**

**د خدای(ج) دربار ته شکر کاږم او ستا څخه هم ډېره مننه کوم ځکه چي هغه نه هېرېدونکې شپه تا او ستر څښتن ماته را په برخه کړې وه.**

**هغه ښايسته شپه...هغه ابدي شپه، هغه د خوښۍ او خوشالۍ نيکمرغه د نوروز(کريسميس) شپه، ويکټوره پوهيږې چي څه وايم ؟**

هغه ښایسته شپه...هغه ابدي شپه، هغه د خوښۍ او خوشالۍ نیکمرغه د نوروز(کریسمیس) شپه، ویکټوره پوهیږې چي څه وایم ؟

هدف مي دا دی چي ستا د کشش او جاذبې قوه ستا په ښایسته او خوندور قلم کي ده.

ستا دا زور ور او جادوګر قلم دی چي زما زړه یې په زور سره په خپله مټي کي راوستلی دی.

ستا توان ستا په قلم کي دی او زما توان زما په زړه کي دی مګر فرق په دې کي دی چي زما زړه زما له مرګه سره مري مګر ستا قلم تل پاته او لافاني دی.

نو له دې کبله د میني په میدان کي...

په دې اسماني او لاهوتي سیالۍ کي ښایي زه پر تا بریالۍ سم .زه پر تا کامیابه کیږم او تا تسخیروم مګر :

یوازي په مینه کي...

په مینه کي زه غالبه او ته مغلوب کیږې.

ښایي پوښتې به ولي؟

ځکه زه په دې پوهیږم چي ستا سره باید چي څنګه مینه وکړم.

پوهیږې چي زه باید تا څونه ، او تا د قلم نابغه او قهرمان وستایم...

ستا د زړه کیلي زما څخه ده

هغه زرینه کیلي یادوم کوم چې د فرانسې د ټولو
پیمخو ښځو څخه یوازي زه د هغې په پیدا کولو بریالی سوم.
ژولیت



## پنجشنبه ۱۲ بجې

ویکتوره! زه نېکمرغه یم...
هغه څه چې زه احساسوم، د هغو له رویه یوازې دا ویلای سم چې زه نېکمرغه یم او بس.
مګر ډېره عجبه دا ده، هغه سپېڅلی احساس چې زه لرم، د هغه د بیانولو لپاره الفاظ نلرم او زه مې د دې ناتوانۍ څخه چې نسم کولای خپل احساس بیان کړم، ډېر رنځ وړم ځکه زه نسم کولای چې نیکمرغي مې د فرانسې او ټولې نړۍ و ښځو ته بیان کړم.
مګر پر دې سربیره بیا هم ډېره خوښه یم ځکه چې په دې ښه پوهېږم چې ته په خپل نه ستړې کېدونکې او نابغه فکر زما په ناویلې رنځ او تکلیف پوهېږې. ته کولای سې چې زما هیلې او امیدونه په رښتیا بدل کړې. ته کولای سې په ډېرې آسانۍ سره زما و خیالونو ته د عمل جامه ور واغوندې.
زما ویکتوره! ما ته ښکل کړې.
دا زما شونډان نه ول چې ستا داغونکې، شرابې او ساه بخښونکې شونډان یې ښکل کړل.

دا زما زړه وو،زما تږی زړه ،هغه زړه چي تا د خپلي ميني په جال کي راښخه وړی دی.

بيا هم تا د زړه له تله ښکلوم. يوځل، بيا سل ځله، بيا او بيا....



# یکشنبه ۸ بجې

آیا هغه شپه ښه دربانديي تېره سوه ؟
زما دروند معبوده! زما څخه خو د هغه ښایسته او خوندور ماخوستن په اړه مه پوښته، رښتیا هم ما یو ډېره له خونده ډکه او خوږه شپه تېره کړه. که رښتیا راباندي وائې، هغه شپه زما لپاره یوه نه ختمېدونکې ، تل پاتې او سپیڅلې شپه وه.
زه نه پوهېږم چي دا سپیڅلې شپه په کوم نامه یاده کړم چي د عظمتونو څښتن، د برمه ډکو ستورو څښتن، د فریبکاره اسمان څښتن او ددې ستري ختمي کرې څښتن زما ستر آرمان او زما د خیالونو شهزاد زما غیږي ته را واچاوه.
زه له څونه وخته د انتظار په انګار کي سوځېدم .
له څونه وخته مي د خوبونو په تاج محل کي د خیالونو پر نیلیو سفر کاوه څو دا ده هغه شپه راغله.
هو، هغه تل پاتې او نه هېرېدونکې شپه. په هغه شپه په کومه چي ډاکټر راته وویل چي تر زړه لاندي مي یو بل موجود وجود موندلی..

د خوشالۍ،خوښۍ او نیکمرغۍ له زوره مي چي د وجود رګ رګ د نفس ساه ساه او د خیالونو ځپه ځپه مي يې نیولې وه، یوه لویه چیغه تر خوله وختته. ومي ژړل، ومي خندل، لیونتوبونه مي وکړل.

هغه ماته په حیرانتیا کتل.

مګر هغه په دې نه پوهېدی چي د مینې مېوه څونه خوږه او په زړه پوري ده، هغه نه پوهېدی، هغه د دې توانايي نه درلودله چي زما تل پاته او لاهوتي احساسات په هغه رنګینه شېبه کي درک کړي.

اف، دا زه څه وایم؟

زما سپېڅلې ځښتنه! ستره خدایه! کاش زما فکر ته داسي الفاظ راتللای چي ما مي خپله نیکمرغي په بیانولای سوای ...

غوږ سه ویکتوره!

زما تر زړه لاندي یو بل ویکتور د ودي په حال کي دی مګر پام چي دعوه په ونکړې. دا بیخي زما خپل ویکتور دی. دا زما ویکتور دی،یوازي زما. دا ویکتور زما څخه هیڅوک نسي اخستلای مګر تا و نه ویل چي ته څنګه، ایا له دې خوارږه اعتراف څخه...له دې مقدس زیري څخه ...خوشاله سوې که څنګه ؟..

خير دا په ما اړه نلري چي ته خوشاله سوې که يا ...

دا زه يم چي نيکمرغه يم،دا زه هغه هيله منده يم چي هيلي مي تر سره کيږي ،زه درسره مينه لرم ،زه مي په ټول توان او طاقت سره دا خبره کوم ،هغه څه چي زما په وجود کي د موجودېدلو په حال کي دي، هغه همدا ستا(ويکتوره!) مينه ده ،بس يوازي همدا ستا مينه...

**يوازي ستا ژوليت**



# سارا ابر بهارت

په دې وخت کې چې زه تا ته دا لیک لیکم، ته چیرې ئې؟

اې زما د زړه د نړۍ پاچا! ته په دې غمجن او تور مخي ماښام کې چیرې ئې؟

ستا پیغام...

ستا هغه له میني او شوره ډک لیک، پوره یو ساعت وړاندې زما لاس ته راغی.

هو، پوره یو ساعت وړاندې.

څه خزان وهلی او غمجن وخت ؤ مګر څه تل پاتې، له خوښیه ډکې او نشه کوونکې شیبې مې را په برخه سوې. هیله مې درلوده چې د ژوندانه دغه ښایسته او ښې شیبې ستا سره او ستا د بازوګانو په کړی کې واوسېږم...

هیله مې درلودله چې کاش په دې وخت کې ستا مخ ته ناسته وای او ستا ښایستو سترګو ته مې کتلای او په مینه مینه

مي په سترګو ستا د زړه په غوږ د خپلي لافاني ميني زمزمې
دراوريدلای، ستاليک...

هغه څو موزوني ښايستې او سر شاره کليمې چي مي
چي د ميني په رنګ او د حيا په اوبو پرېول سوي وې څو ځله د ميني
په جوش او خروښ ولوستلې...

هو، ومي لوستې او بيا مي هم ستا په ياد ولوستې، ستا د
را يادولو په خاطر مي ولوستې. په يوازي والي او له خلګو څخه
ليري مي چيري چي ستا له يادونو او خيالونو څخه پرته بل څوک
نه ول راسره، و مي لوستې، او د هغي خوني دننه چي د تل په څېر مي
همرازه او ملګرې ده، چي د خوښۍ او خپګان دواړو پناه ګاه مي ده.
هلته چي په سکوت کي ستا له يادونو او خيالونو څخه پرته بل
هيڅوک نه راسره او سيږي، هلته مي ولوستې.

ګرانه!

اې سپيڅلې او مقدسه دوسته چي د ميني د اور بڅري
دي تل زما د زړه په مجمر کي له ډيره زوره لمبې جوړ وي! پاريس
ستا په نه شتون ماته د ړندو په ښار بدل سوی دی، په ښار کي له
ژوندي لاښونو څخه پرته نور څه نسته او له يخو سوو مړو پرته خو
ما بل هيڅ شی نه دی ليدلي.

مخکي له دې چي زه تا و پېژنم...

مخکي له دې چي ستا روح بخښونکي او ښکاري
سترګي زما له سترګو سره وجنګيږي او په هم هغه لمړيو شيبو کي

مي د زړه ښکار وکړي ،دا ځای دا له ېيرو باره ډک او ناارامه ښار ماته له برمه ډک پاريس ؤ او ما هغه لکه جنت داسي احساساوه مګر اوس راته دا ملکوتي جنت په يوه بې پايانه صحرا بدل سوی دی..

هو، هغه بې پايه صحرا چي ترې د وتلو هيڅ لاره نه تر ستر ګو کيږي. ماته نور دا ښار له غم ،بېلتون او ناکامۍ څخه ډک ښکاري...

ژوندی پاريس نور مړ سوی دی، هغه اوس د هغه خراب سوي ساعت په څېر دی چي عقربې ئې ماتي سوي، ګرځند يې له حرکته لوېدلی او له ټک ټوک او چليدو څخه لويدلی وي، د هغو شېبو انځورونه مي چي د يوبل په څنګ کي مو تيري کړي دي، دسترګو په وړاندي نور د پيکه کيدو په حال کي دي.

هو، زه اوس د تيرو يادونو او د خپلو ليونيو يادونو له مخي دا په پوره ډاډ احساسوم چي ته زما نيم نه بلکي پوره ژوند يې او زه تا ته زما په څنګ کي د اوسېدو لپاره ډېر ضرورت لرم.

ستا خبري...

ستا جادوئي خبري او ستا کوډګره لهجه- که چيري په زهرو لړلي ،ترخې له عصبانيت او ليونتوبه څخه ډکي هم وي- کولای سي زما ټول غمونه ،زما ټول تکليفونه او بې پايه انديښنې راڅخه واخلي ...او زړه مي د خوښۍ او خوشالۍ په شګوفو کي و نغاړي.

زماهنر...

داهنر چې نور ستړی سوی دی او ستا د ښایستو خبرو له سپېڅلو سینو څخه اوبه کیږي او ستا د سپېڅلي میني په معصومه او مهربانه زانګو کي رالویږي او وده کوي.

زه دغو دوو ته...

ستا خبرو او سپېڅلي میني ته لکه ژوند چي لمر او هوا ته ضروت لري، ضرورت لرم.

زه ستا و پاروونکو مینه ناکو او سپېڅلو خبرو ته تږې تږې یم،لکه څنګه چي د ورځي په بیلا بیلو وختو کي اوبو او خوراک ته ضرورت لرم، هم هغسي زه ستا د خبرو د سپېڅلي چینې داوبو تږې یم.

او زما په سینه کي دابل سوی اور...

دا یونه دنه زغمېدلو اور دی..

ستا خبري او الفاظ– زما دروند معبوده!– زما غذا ستا، لیدل او کتل زما د ژوندانه خوارږه نشه کوونکي شراب دي..

او ستا وجود....ستا سپېڅلې مینه او ستا هستي او نیستي زما هرڅه دي.

ستا سارا



لودویګ فن بیتهوون

## د جولای شپږمه (۱۰۸۱)

زما پرښتې.

اې زما وجوده ...او زما هرڅه...

نن په دې لیک کې ...دا لیک چې د خپل زړه په خوښه یې تاته لیکم، یوازې غواړم چې یو څو کلیمې ...یا څو جملې درته ولیکم.

ته په دې ښه پوهېږې چې زموږ د ژوند شېبې په پرله پسې توګه په ډېرې تیزۍ سره تیرېږي، تل پاته والی یې له منځه ځي او د هرې ورځې او شپې په تېرېدو سره موږ د سکوت او ابدیت د ښار و وره ته یو بل ګام هم ورنږدې کیږو.

ایا د افسوس ځای نه دی چې موږ مو له مینې ډک زړونه اندېښنو ته و سپارو؟.

مګر ته ولې دانه وایې زما شهزادګۍ..

چې ایا هیڅ یوه مینه کولای سي له قربانۍ، سر ښندنې او نفسې خواهشاتو پر ته بریالۍ سي؟

که چیري داسي وي نو بیا د نړۍ هیڅ ځواک زموږ په مینه څه نسي کولای او د هیچا په وس کي نه ده چي د دې خبري په اړه چي زه ستا یم او ته زما ئې، څه وکړي.

اې د کائیناتو سپیڅلي پرښتې!

فطرت ته...

او په هغه کي نغښتي جلا او پرتم ته وګوره! ځان ته په دې اسماني اعجازي انځور کي تسکین او ارام پیدا کړه .

زه په دې ګواه او شاهد یم چي ته- زما سپیڅلي میني!- چي د ژوند د ډېرو ښکلې رڼا مي ئې، په پرله پسې توګه د ژوند له ناخوالو او له هغو ناویلو او نه ویل کېدونکو ناخوالو څخه رنځ وړې او ځوریږې کوم چي ستا د سینې په مجمر کي بند زړه دي در سوځوي.

مګر که چیري موږ و کولای سو چي ګډ ژوند وکړو، همدا سبا یو دبل سو، یو وجود سو نو ایا دا تکلیفونه او زحمتونه به لږ نسي؟

زړه مي له خبرو څخه...

له هغو خبرو څخه چي باید ستا سره یې شریکي کړم، ډک دی مګر په ډیر تاسف سره باید و وایم چي داسي شېبې راځي چي په بېخي تکلیف سره تر خوله یوه کلیمه باسم..،مګر کلمات –دغه ساده الفاظ– نسي کولای چي زما

د ډک زړه ترجماني وکړي او دا ساده الفاظ ددې چاودیدونکي زړه هیڅکله ترجمانان کیدلای نسي او هغه څه چي زه غواړم تاته ووایم، دغه ساده الفاظ هغه انځورولای نسي.

دا هم له هغو ترخو شېبو څخه یو شېبه ده...

له ترخو او غمناکو شېبو څخه ... له اندېښنو او فکر خرابوونکو شېبو څخه...

ته دي د خپلي خوښي په اړه لږ فکر وکړه! ځان دي د غمونو ناولي ډولۍ ته مه سپاره چي له ځانه سره دي د بدمرغۍ د کاله مېلمنه کړي، اې زما د غم ځپلي ژوند یوازنۍ خزانې!

ته هم، همهغسي چي زه ستا یم، زما واوسه. ښایي خدای(ج) هغه وخت ډېر ژر راولي کوم چي هغه (ج) زموږ د خوشالۍ او ارامۍ لپاره ټاکلی دی او ښایي خوښي، چي موږ تر هرڅه ډېر ورته اړیو، بیرته زموږ پر لور په خپلو سپېڅلو او مهربانو وزرونو راسي.

(ستا و فادار لودویک)

# سې شنبه د جولای (۷)مه

ته... ته اې زما درنې پرښتې! ته ولې تل په غم کې زنګيږې، ته ولې د غم په لمبو...،د اندېښنو په ټالو او د ويري په سکروټو کې سوځيږې؟

دا ولې زما د هيلو ښايستې طوطکۍ؟

مګر ته په دې نه پوهيږې زه چې هر چيري يم ستا په فکرنو او خيالونو کې يم ؟.

ته په دې نه پوهيږې چې ته تل زما د ياد د کور ميلمنه يې ؟

ته زما په خوبونو کې...

په ويښه او ويدو کې...

ته لکه ځلېدونکی لمر او يا لکه ځلېدونکی ستوری، تل زما د زړه پر ښايسته اسمان ځليږې .

او زما زړه ته د ميني ځلا ....

د هيلو او اميدونو ځلا وربخښې.

زه تل ستا سره يم.

تل ستا د خيالونو سره غاړه غړۍ ژوند کوم او تل دي په خپل ځنګ کې حسوم.

نور ته خپله زما ځان يې...

ته زما هرڅه يې...

تر هر هغه وخته چي زه فکر کولای سم ښايي تر يکشنبې، يا تر نورو پنځو ورځو، چي زما ليک –دا زما د زړه پيغام– تاته در رسيږي، او ښکي مي په سترګو کي موجونه وهي .

اخير ته په دې پوهيږې جوليتا؟. ته چي زما سره څونه مينه لرې، زه تر هغه څوچنده زياته مينه در سره لرم، زما مينه تر اسمان لويه او تر ابد اوږده ده .

زما مينه ستا سره خدايه او تل پاتې مينه ده.

رښتيا سپيڅلې مينه داسي نه وي لکه يو لويه کلا چي سر يې اسمان ته رسيږي.

ستا لودويک

# چهار شنبه د جولای اتمه

که څه هم چي تراوسه مي د خوب له ځایه نه یم راوتلی مګر فکرونه مي لکه بې ځالي مرغان د خپل نازنین معبود یعني ستا په لټه لالهانده دي.

او همدا اوس اوس زه دا فکر کوم...

چي زما د زړه تړون ستا له میني سره یو تل پاتی او اسماني تړون دی او زه به و نه سم کولای چي د ژوند تر وروستۍ سلګۍ...

تر هغه وخته چي د ژوند ګرمه وینه مي په رګونو کي چلیږي، دا اسماني تړون له یاده و باسم...

زه نه سم کولای چي له تا څخه پرته...ستا له څنګ څخه لیري، د ژوند دروند پیټی پر اوږو یوسم او له خپل تقدیره څخه خوشاله ژوند وکړم.

مګر دا دی ستا څخه لیري یم ،او دانه منل کېدونکي پریکړه د تقدیر ده چي موږ یې یو له بله څخه لیري کړي یو.

دا د تقدیر لیک دی چي زه یې ستا څخه لیري کړی یم او په یوه دره کي یې ستا څخه لیري سرګردانه هستولی یم.

مګر زه دا ییلتون تر هغه وخته زغمم چي تا په هم هغه الهي بڼه له هغو جادوګرو سترګو سره ووینم.

او کله چي دي ووینم، په غېږ کي دي ټینګه کړم، دونه مینه در سره وکړم چي لېوني او ستړي روحونو مو یو له بل سره ګډ سي او د پرښتو د قلمرو پر لور والوزي.

ستړ ځښتنه!

ولي دوه کسه چي یو له بل سره مینه لري یو له بل څخه لیري واوسیږي؟ ولي باید د هغوی خوښي ور نه کول سي؟

ولي باید داسي وسي...؟ولي...؟

زما ژوند دلته په وینه(په فرانسه کي د یو ځای نوم دی) کي سخت او نه زغمېدونکی ژوند دی ،ستا میني زه د نړۍ تر ټولو نیکمرغو نیکمرغه او تر ټولو بدمرغو بدمرغه کړی یم، زه د ژوند په دې مرحله کي تر هرڅه زیات، آرام او اسوده ژوند ته اړتیا لرم مګر ته و وایه چي په داسي حالاتو کي دا امکان لري؟.

اوس دستي خبر راغی چي پوسته رسان نور حرکت کوي او زه د دې لپاره چي دا لیک ژر تر لاسه کړي او د دې لپاره چي د لمړي پوسته رسان په لاس یې درولېږم، خپل لیک پای ته رسوم. ما مه هېروه. زما مینه مه هېروه.

ته نه پوهېږې چې نن پرون او نوري ورځي مي څونه هيله درلودله چې ودي وينم.

هيله مي درلودله چې ستا د سپېڅلي رخسار زيارت وکړم ....ته ...زما ژوند يې ...اې زما وجوده خداي (ج) دي ساتندويه سه، زما ښايستې جوليتا! د خپل مين لودويک په اړه هيڅکله غلط فکر مه کوه ځکه داله ميني ډک زړه، تل ستا دی ،هميشه زما دی او هميشه زموږ دی.

ستا وفادار لودويک



# لمړۍ لیک

**فرنګیس**

**زما درنې محبوبې!**

**که په دې درو لمړیو الفاظو مي د زړه پیغام در ته پیلوم، ومي بخښه، کیدای سي چي په راتلونکو لیکونو کي مي در ته د ښاپیرۍ او یا زما شهزادګۍ و وایم او یا به دي ښایي ستا په خپل ښایسته نامه لیک در ته ولیکم.**

**ایا له دې پیلامې څخه به نه ئې پوه سوې چي د څه شي لپاره مي لیک در ته لیکلی دی؟.**

**تر دې نږدې څلورو ساعتونو مخکي لا تا زما په زړه کي کوم ځای نه درلودی، مګر له اوسه څخه وروسته زه یم، ته یې او ته یې، زه یم.**

**دا زړونه څونه ژر پر ته له کوم فکر او چورته بایلل کیږي؟**

**نن شپه زما او ستا دو همه کتنه وه. چیري دي هغه ساده زړي خلګ چي وایي د زړونو د تړون لپاره پر له پسې کتنو ته ضرورت سته؟**

هغه کسان چیري دي چي په دې باور نلري چي د زړه د ګټلو او یا بایللو لپاره یوازي یو نظر بس دی؟.

لمړی ځل زما دا بې صبره ستر ګي ستا پر نازنینه څېره څلور میاشتي وړاندي ولګیدې. هغه وخت ته هغه نا غوړیدلي ګل غوټۍ ته ورته وې چي کرار کرار ځان غوړیدو ته جوړ وي. رښتیا، تا ګل لیدلی دی چي په څونه ناز نواز او په ډیر ښایسته انداز غوړیږي؟.

ما چي ته کله د لمړي ځل لپاره ولیدې نو در ته په ځیر ځیر کتلو زړه مي نه وکړ، ستا سره د ستر ګو جنګولو وس مي په ځان کي و نه لیدی، یوازي مي یو ځل در ته کتل بس و بلل،ایا زما لپاره دا بس نه وه چي تا ته مي د کتلو اجازه درلوده؟.

مګر په کومه شپه چي مي د دوهم ځل لپاره هلته ولیدې، هغه ځای په کوم نامه ونوموم، وم خلوت کده یې و بولم که مسجد، نور هغه ځای زما د زړه خانقاه ده. دا هغه ځای ؤ چیري چي ما ستا توري ،جادوګري او زړه غلا کوونکي ستر ګي ولیدې. تا له تیرو څلورو میاشتو راهیسي ډیر بدلون موندلی دی.

د خدای(ج) له قدرتونو او د طبیعت له نوښتونو څخه یو هم د ښایستو شیانو ژر زړه وړونکي کول دي. ته دې ته ګوره چي یوه ورځ د یو چا پر معصومیت ترحم درځي او لږ وخت وروسته دي هم هغه کس زړه درڅخه وړي.

ځلور ساعته مخکي چې ته مې ولیدې ،تر دې وخته مې هیڅ فکر نه کاوه چې ته به په دونه اسانۍ زما رنځور زړه راځخه وړې، رښتیا، ته په دې پوهیدې چې ته یې ددې کار لپاره ټاکلې یې چې له ماځخه به زړه غلا کوې؟

کله چې ته هغه ځای ته راغلې، زړه مې راسره وومګر زه له دې غافله وم چې ته به هغه زما ځخه د ازل او ابد لپاره وړې.

زما درنې پر ښتې! زه څه کولای سم؟ دا دننه شور کوم پیل نه غواړي. د دې سوځوونکي اور د بلولو لپاره باد او بوټو ته ضرور ته نسته؟ دا داسې سکروټې دي چې په خپله تازه کیږي.

دا یو داسې زخم دی چې خپله په وجود کې موجود کیږي ،که ځلور ساعته مخکې چا ماته د مینې په اړه څه ویلای، ما به ښایي ور باندې خندلای مګر اوس دادی خپله پکښې راګیر سوی یم. دې نړۍ نیوونکې درد زه هم خپل نغري ته د سوځیدولو لپاره ور کش کړم ،له اوس ځخه ځلور ساعته کیږي چې تاسو نه وینم،خدای(ج) دې وکړي چې دا یوازنی وخت وي چې زه او ته یو له بله ځخه لیرې یو،دا لیک ځکه درته لیکم څو خپل ځان ته خپله ډاډ ور کړم ، ذوقونه او شوقونه هغه نه بیلیدونکې او یوازنۍ مینه ده چې خالق یې انسانانو ته وربخښي څو خپل پیدا ینتي اور په سوړ او زړه دلاسا کړي. د مین موسیقي ږغوونکی زړه بې هیڅه غواړي چې موسیقي و ږغوي، عاشق هنرمند له کومه سببه پر ته غواړي هنر و پنځوي، زړه بایللی شاعر حق په ناحقه شعر لیکي او زه

هم دادی بې هیڅه تا ته دالیک لیکم او اوس حسوم چې دا ټول بې څه نه دي ځکه زه اوس دادی خوښي حسوم.

او نه پوهیږم چې دالیک څنګه تر تا در ورسوم؟ ښايي هلته يې در ته کښېږدم چیري چې ستا جادوګرو سترګو زه د ځان کړم، هلته چیري چې ستا عنبرینو زلفو زه د تل لپاره لکه یو بندي وتړلم، او ښايي دا لیک هم لکه (زه)، تاته خپل په خپله در ورسیږي.

اې هغو بې روحه جسمونو چې تر ننه زما یوازني ملګري واست! تاسو ته زیری در کوم چې له نن څخه وروسته تاسو د هغي سړي وژونکي تور سترګي میرمني ملګري کېدونکي یاست د کومي چې د میني او جذابیت اور زما په زړه کي په غرغنډو سوی دی.

او ها، چې هېر مو نه سي، له نن څخه وروسته د هغې خیالونه هم لکه تاسو زما ملګري سول.

زما درنې پرښتې! نه پوهیږم چې ستا کورنی به ما څنګه قبول کړي؟. ته رښتیا ووایه! ته زما په مانا داره کتلو پوه سوې که یا؟. دا څنګه امکان لري چې د زړونو ښکاري دي په دې نه سي پوه چې ښکار سوي زړه په کتو کتو کي څه ورته وویل؟ تا که یو ځل په هنداره کي کتلي وای نو حتماً به پوه سې چې زما کتلو تا ته څه ویل.

په دې نه پوهېږم چې دا لیک به تاته ورسیږي او که یا؟مګر دونه پوهېږم چې دا لیک زه تاته لیکم . او په دې هم ښه پوهېږم چې له دې وروسته به ډېر لیکونه درته ولیکم. دا لیکونو به زما د زړه له تل څخه د بېلاییلو اوازونو هنداره وي مګر هغه اواز به چې د پیدایښت له پیل څخه تر اوسه یې ټول مینان یو بل ته وائي، ستالپاره بس نه وي، هغه اواز یادوم چې ته هم ښایي په پوهېږې، د (درسره مینه لرم) تر شا به په زرګونو پیغامونه پټ نه وي؟.



# دوهم لیک

زما درنې محبوبې!

دا پاڼه زموږ د سپېڅلي داستان پیلامه ده.

ته به دې نه پوهېږې چې نن سهار د لمر زرينو او نازکو وړانګو زه په ځونه مينه او خلوص په خپله نازدانه غېږه کې په ځونه مينه ونيولم. دغه لمر چې هره ورځ به مې ورته په سترو او ځورېدلو سترګو کتل ،نن يې زه په بل حالت کې ليدلی يم .

ځکه چې تل به زه هر سهار په نا اميدۍ له خوبه را پاڅېدم مګر نن زه له اميد سره مل له خوبه را ويښ سوی يم.

رښتيا، ته زما د ژوند لپاره يو مهم ضرورت وې، که مې ته نه ليدلای نو مابه د ژوند دا ډوبېدونکې بېړۍ تر منزله څنګه رسولای؟ ما به تل له ځانه سره فکر کولای چې زه به مې دا خسته کوونکی ژوند څنګه پای ته رسوم؟.

مګر اوس پوهېږم چې څنګه؟. په مينه او اميد- دا دوه هغه نازنين ملګري دي چې کله له چا سره ملګري سي نو خوښي، خوشالي او نيکمرغي د هغه سړي د کور مېلمانه کېږي .

تر ننه زه له سبا وېرېدلم ځکه چې زما سبا هم لکه نن او نن مې هم لکه پرون داسې ول مګر له همدې شېبې څخه په ډېره مینه د سبا لاره څارم ځکه د هرې ورځې پر تېرېدو زما او ستا پر دې ښایسته داستان یوه بله ورځ هم تېرېږي .

پوهېږې چې نن سهار مې د ختېنې کرې د ښایسته او ځلېدونکې څراغ (لمر) پر زرینو وړانګو په ځونه خوښۍ او خوشالۍ سترګې ولګېدې.

ایا تاسو کوچنیان لیدلي دي چې د اختر په ورځ د نوو کالو او خوږو شیانو د خوړلو په تمه په ډېرې خوښۍ او خوشالۍ له خپلو ځایونو څخه په ټوپکو ټوپکو په پوره حیرانتیا او له خوبنیو څخه په ډکو سترګو له ځایونو څخه ولاړیږي. ماهم په هم هغه ماشومانه انداز نن سر له بالښته پورته کړی دی. اې د سهار لمره! تا نن خپلې لمړنۍ وړانګې په پوره خلوص او مهربانۍ و شیندلې. ته خبر ئې، داسې ورځ به هم راسي چې ستا ښایستې وړانګې به موږ دواړه یوځای په خپله نازولې غیږه کې لکه یو مهربانه مور ونیسي او په ناز ناز به مو لکه ژړېدونکې ماشومان وځنګوي. ته تل او هرځای د مینو مل او ملګری ئې او پوه سه! که چیرې ستا دغه زرینې وړانګې و نسې کولای چې

چي له لاسه تللي زړونه په کوګل کي ارام کړي، نو بيا ته هيڅ په درد نه خوري.

زما ښايستې پرښتې! نن زما او ستا د راز او نياز لمړۍ ورځ وه، همدا ورځ بايد زه د خپل ژوند لمړۍ ورځ و بولم، دوولس ساعته به لا نه کيږي چي تا زما په زړه کي ځاى نيولى دى مګر زه داسي فکر کوم چي ته ټول عمر زما سره وې او زه ستا سره .

اوف، څه اوږده کلونه ستا په لټه کي په سر ګردانيو راباندي تېر سول. پوهيږې، دغه ټول کلونه پر ما ستا په انتظار کي تېر سول.

زه خپله هم په دې نه پوهېدلم چي ولي دونه ناکراره يم ،مګر دونه پوهېدلم چي زړه مي د يوشي يا يو چا په لټه کي دى مګر اوس پوهېږم د هغه څه پسي چي زه ګرځېدلم، دا هغه ګل ځانګه وه چي تر اوسه کوم بل بلبل له ما څخه پرته د هغې د ښايست سندره نه وه ديکلمه کړې او زما څخه پرته د همدغي ګل ځانګي په اړه کوم بل بلبل داسي په ځار ځار نه وو ژړېدلى.

تر اوسه نه زه د چا و او نه ته دچا وې !

زه ستا په لټه کي وم. رښتيا ووايه ته هم زما په لټه کي وې که څنګه ؟.څنګه چي زما زړه ستا د خوب تښتوونکو سترګو د ديد په لټه کي ؤ، ايا ستا دا دوې

مستي سترګي همداسي زما غوندي يو ساده زړي انسان په لټه کي نه وې؟.

تيره شپه ستا په فکرونو کي ويده سوم، ته باور وکړه چي تر سهاره پوري مي ستا ملکوتي رخسار د سترګو په مجمر کي ايسته او دوري کېدی. زړه مي غوښتل چي دا ملکوتي خوب هيڅکله پای ته و نه رسيږي مګر نه، زه بايد تا په ويښه هم و وينم. زه غواړم چي د خوب ريښتوني څېره په ويښه ووينم څو ته د ابد او ازل لپاره زما فکر، خوب، خيال او هرڅه و ګرځې.

دغه شور او خيال چي خلک يې مينه بولي، په څونه تيزۍ سره مخ ته ځي. د دې شور لمړی پړاو په ډيري تېزۍ له ځنډه پرته خپل هدف ته رسيږي. تا اوس زما ټول حواس له ځان سره مشغول کړي دي.

اوس نور زه (زه) نه يم،هرڅه چي يم،ته يې. زما روح او ژوند، زما هستي او نيستي، زما شتمني او غريبي هرڅه ستا دي.

نن ښايي زه ستا په يادونو سبا کړم او سبا مي هم بل سبا او داسي به مي د ژوند ټولي ورځي ښايي د نن په څېر تيري کړم. ښايي زه مي ټوله ژوند يوازي ستا په يادونو تېر کړم او بس. زما خيالونه هم هغه نوي مرغه ته چي لا يې وزرونه له الوتلو سره نه وي اشنا سوي، ورته دی.

هغه هم له خپلي جوړی(ځالګی ) څخه په غورځېدو غورځېدو ځان څانګو ته رسوي او له يوې څانګي څخه بلي ځانګي ته غورځي او غواړي د عظيم او فاني جهان په وسعتونو کي خپل له لاهوتي او لافاني خوندونو سره خپل لمړی سفر پيل کړي.

ما مي د خپل ژوند په اوږد سفر کي له ډېرو خلکو څخه چمونه او چمبازی وليدې، هيڅا ونه سوای کولای يا خو هيڅا وه نه غوښتل چي ما د دې زندان ته ورته نړی له سوځوونکي خيښي څخه د خلاصون په نيت و ژغوري مګر هغه څوک چي ما په هغه کي د خپل خلاصون نښي وليدې، هغه ته وې. هغه ګل چي زما د زړه د غه کوچنی کمپلی يې په لټه کي وه، اخير يې هغه ګل ستا په ښايسته رخسار کي پيدا کړ .

يوازي ستا وريښمين او زړه وړونکی رخسار ؤ چي و يې کولای سوای زما ناتوانه سترګي په خپل ځان کي ښخي کړي. يوازي ستا جادوګري نيمه مستي سترګي وې چي زما زړه يې را ويښ کړ او له يوه اړخه يې پر بل اړخ واړاوه.

څښتن ته زما لپاره او زه ستا لپاره جوړ کړی يم ، هغه څوک چي د ميني په دې ميدان کي لا تر اوسه په جګه غاړه او قهرمان ګرځېدی او خپل زړه يې په لاس کي

ؤ، بالآخره ستا جادوګرو سترګو هغه ته ماته ورکړه او د زړه قهرمان يې د تل لپاره پر مځکه په خپلو پښو کي را وغورځاوه. درې ورځي وروسته ښايي پسرلی خپلي کړکۍ پر دې ښار را پرانيزي. د ژمي سختي ورځي او شپې تيري سوي دي او پسرلني مرغان بيخي لا له مځکي را رسيدلي دي او په خپلو ښايستو ږغونو تاته ستا د ميني مبارکي وايي.

سبا چي کله د مځکي مخ له ګلونو، شينګياو او شګوفو څخه ستا په څېر ښايسته سي ،نو باوري يم چي ماته به هم ستا په څېر د مبارکۍ مراتب وړاندي کړي.

اې پسرليه!

ژر له دې اوږدې لاري را ستون سه ،راسه او وګوره چي زما په زړه کي او د هغې پر مخ پسرلی غوړيدلی دی.

# پنځلسم لیک

نن اتمه ورځ ده چي زه له تا ليري په روغتون کي بستري يم. اې بې رحمي! ايا ته نه پوهېږې چي دا دولس فرسخه لار چي زما نفس يې را وکېښ ما يوازي ستا د ښايستو زلفو په خاطر ووهله مګر ته تر اوسه په دې پوهېږې که نه چي ستا زلفو زما څخه روح وکېښ؟ ايا ته په دې پوهېږې چي ستا لوړ قامت او جګګي ځوانی نږدې ؤ، زه د بلي نړۍ مېلمه کړی وای ؟.

ته څنګه کولای سې چي ما د مرګ او ژوند پر دې دوه لاري او ومرګ ته نږدې په دې توره تياره کي يوازي پرېږدې او خپله مهرباني زما څخه وسپموې؟

فرنګسيس! زه نه پوهيږم چي په بدبختی کي کوم راز دی چي تر نېکمرغی ښه خوند را کوي، نه پوهېږم چي ولي بدبختان له خپلي بدبختۍ سره مينه لري او نه سي کولای چي لاسونه له هغې څخه پرېولي، زه هم نه سم کولای چي له خپلي بدبختۍ څخه سترګي پټي کړم. بد بختي زما د ژوند لپاره ضروري ده بلکي دا زما د ژوند يوه برخه ده او که چيري ښه په بې خارۍ سره ووايم، همدا بدبختی ما ژوندی ساتي.

اې هغو کسانو چې له خپلو چيغو سره مينه لرئ!اې هغو کسانو چې د خلقت د خالق په لاس د ږغېدونکي کراري موسيقي څخه خوند اخلئ !اې هغو کسانو چې د بلبل له هغو نغمو سره مينه لرئ کوم چې د پسرلي د غوړېدلو تازه ګلانو پر سر يې سر کړي وي!اې هغو کسانو چې ستاسو لمن له اوښکو وچولو سره اشنا ده! اې هغو کسانو چې د ماتو سوو او سوځېدلو زړونو له اهونو او فريادونو څخه خوند اخلئ!

دغه دي هغه نغمې چې تاسو يې په لټه کې ياست. دا چيغې په هغه رنګ لړلي دي کوم چې تاسو يې په تمه ياست، دا هغه سوځوونکي نارې دي چې ستاسو د زړونو پر دې لړزوي.

سلام پر تاسو اې هغه اوښکو چې د دې ليک ځيني کرښې به له ځانه سره يو سئ، سلام پر تاسو اې هغو ګوتو چې زما دغه ليک به په لړزه لړزه نيسئ،قربان تر تاسو اې هغه نازنينو سترګو چې د دې ليک په ويلو به ستاسو په مجمر کې د اوښکو اوبه را ټوليږي، صدقه تر تاسو اې سوځوونکو چيغو چې د دغه ساده او له اوره ډکو کليمو شاته پټې ياست او سلام پر تا اې سوځوونکې اوره چې په دغه الفاظو کې نغښتی ئې! اوه، بخښنه غواړم راڅخه هېر سو، سلام پر تا يې هغه زړه چې د دې ليک په ويلو به و سوځې!

زما درنې فرنګسيس! د دې ليک له ليکلو څخه زما يوازنی هدف دا دی چې که چيري تا تر ننه د کوم چا په خاطر له

ځانه سره اوښکي ساتلي وي نو نن له هغو څخه یوه زما په خاطر وڅڅوه. که اوښکي نلرې نو بیا که چیري دي یو وخت زړه د یو چا په خاطر په خپګان کي را ګیر سوی وي، نو یو ځل بیا دي د دې لیک په لوستلو سره یوازي د یوځل لپاره دي د زړه ایله یو ضرب زما په خاطر خواشینی که.

اه، کاش چي ته پوهېدای چي زه د نیمي شپې له دې فریادونو،آهونو او چغارو سره څونه مینه لرم؟ زه څونه د دې خواشینوونکو اوازونو په اوریدلو چي د ازادۍ لپاره یې کوي، خوشاله کیږم،زه نه پوهېږم چي خدای(ج) ولي زما زړه له دې ډول شیانو څخه په خوند اخیستلو مجبور کړی دی؟ په دې مي هم سر نه خلاصیږي چي ولي یې زما د زړه تار او بود د دې بدبختیو سره ګنډلی دی؟ فرنګسیس! زه څونه خوشاله کېږم چي بدبختان ټول پر ما راټول سي،خپل بدبخت ړغونه زما له ړغ سره یوځای کړي او یو بدبخته سندره ځني جوړه کړي.

اې زما لمر مخي ښاپیری!

ته له دې سره مینه لرې چي د ځان په څېر ښایسته همدم ولرې، زه هم له دې سره مینه لرم چي د ځان په څېر بدبختان پر ځان راټول کړم.

اې د نړۍ بدبختانو! را ټول سئ ،خپله بدبختي مو وواياست، راسی چي خپلي بدبختۍ سره اندازه کړو تر څو

روښانه سي چي ستاسو بدبختي ډيره ده که د دې ليک د ليکونکي(زما).

اې هغو کسانو چي په دې نړۍ کي اوسېږئ! ټول ځانونه زما په څېر بدبخته کړئ،بدبختي د خلقت ښکلا ده. تاسو په دې نه پوهېږئ چي دا بهانده سوځوونکي اوښکي له ځانه سره څونه خوند لري، زما يوازنۍ خوښي هغه وخت ده کله چي مي ژړلي وي.

سلام پر تاسو اې ملغلرينو څاڅکو چي د دې ليک د ليکلو په وخت کي زما د سترګو په مجمر کي را ټولي سوي یاست! وڅڅيږئ، و څڅيږئ، ارمان مو په زړه کي مه پرېږدئ، پر دې تروو څاڅکو بخل مه کوئ، تاسو د دې الفاظو ځای ناستي ياست. که چيري دا توري په تاسو ونه مينځل سي نو تاسو به هغه بې مانا تورو ته ورته سئ چي تر شا هيڅ هدف نلري او هغه باران ته به ورته سئ چي د مني په منځ يعني خزان کي و اوريږي، نه څه راشنه کړي او نه د چا په درد و خوري.

فرنګسيس! زه نه پوهيږم چي څنګه خپل ليک په اوښکو پرپولم او نه پوهېږم چي زه مي د بد بخته ژوند بدبخته داستان څنګه په دې کرښو کي ځای کړم. په دې مي هم سر نه خلاصيږي چي زه مي ولي د ژوند له بدبختو خاطرو څخه خوند اخلم. ښه، زه له خپلي بدبختۍ سره ولي مينه لرم؟.

بدبختي زما روح ته ځلا ورکوي. زه په دې پس پاتې نړۍ کې له هيڅ شي سره مينه نه لرم او نه زه له هيڅ شي څخه وېره لرم.

زما نيکمرغي هغه وخت ده چې ټول خلک د ځان په څېر بدبخته و وينم ترڅو و توانېږم چې ټول خلک د ځان په څېر بدبخته کړم، زه د بدبختۍ پيغمبر يم، هر څونه چې مې امت ډېرېږي، زه هغونه سر لوړی کېږم. زه د طبيعت زړه سوځوونکې نغمه يم. هرڅونه چې له سوزه ډکېږم او خلک ژړوم، هغونه خوشاله کېږم او زه د شرابو يو ګوټ يم چې هر څونه ډېر خلک مستوالی سم، هغونه درونديږم.

اې د بلبل فريادو! اې د بورا ستې کېدلو! اې د شمعې ويليدلو! اې زړه ماتو نارو او چغو! اې د نيمې شپې ژړاوو! اې د ستم ځپلو خروښه! اې د لمر لويدو اذانه، اې د زړه ماتوونکې موسيقۍ دروند بړغه! او اې هغه ټولو بدبختيو چې انسان بدبخته کوئ! تاسو بايد ټول پر ما را ټول سئ! زه ستاسو پيغمبر يم او تاسو زما تل پاتې او هميشنې فرمانبرداران. هره کرښه چې زه يې ليکم، تاسو يې و ژباړئ، هره چيغه چې زه تر خوله باسم، تاسو يې په خپلو غمجنو درنو او ساده پردو کې تر خلکو ورسوئ.

زما درنې فرنګسيس! زما د بدبختۍ لمړی ورځ هغه ورځ وه چې زه له موره و زيږيدم، زما خو خپله نه ياديږي چې څنګه مې د لمړې ځل لپاره د ژوند په دې غم کده کې لمړی قدم

کنښېښنووی مګر هغې زړې بوډۍ چې زما د ټولو بدبختیو شاهده او زه یې له بر کته تر دې ځایه را رسیدلی یم او د ژوند ټول پسرلي مې د هغې پر پاکه لمن تېر کړي دي، څو څو واره راته ویلي دي چې زه څنګه دې نړۍ ته راغلم؟

څونه به ښه وای چې د بدبختۍ دا مرحله مې خپله هم لیدلې وای، څونه به ښه وای چې ما دا بدبخته پخپلو سترګو لیدلی وای چې دا بدبخته چې د نابودۍ پر لور ګام بړدي څنګه زیږیدلی دی.

اې هغې تیارې شپې! کاشکي چې ته د کائیناتو په کتاب کې نه وای لیکل سوې او کاشکي چې زه ستا په لمن کې نه وای زیږېدلی، کاشکي ستا پر ځای په هغه کتاب کې یوه توره نقطه د نیست او نه شتون په مانا ایښودل سوې وای.

هغې سپین سري بوډۍ چې له څېرې یې د تیرو کړاونو نښې ښکارېدې، ماته کرار کرار داسې وویل:

زه د شپې له موره و زیږېدم. درې ساعته له ماخوستنه وروسته، دوه ساعته تر سپیده دم مخکې، تر څو ورځ سې، ښایي هغې تیارې شپې په خپل شوم بړغ په ناولي اواز کرار کرار ویل چې زه په دې ناامیده شپه کې یو داسې ناامیده زیږوم چې تل به د خوښۍ او امید له ښایسته سهاره فرسخونه لیري وي او په هغه شپه د دې نوي زیږېدونکي (زما) ښه راغلاست و یوونکي یوازې زما د مور زړه بوږنوونکي چیغې وې چې زما د بدبختۍ د

پیلېدو مبارکي يې را کول او په هغه شپه يوې غمجنې سيمفونی په غم انګيز ترنم په جار جار کائيناتو ته د يوه نوي بدمرغه د راتلو زيری ورکاوه.

او ويل يې:

اې د کائيناتو بدمرغو! ستاسو پېغمبر و زېږېدی. د بدبختۍ ډلي ته يې بلنه ورکول چې زما شاوخوا خپله پهره ولګوي،د نااميدی له کورنۍ څخه يې هيله کول چې زما د ښه راغلاست لپاره په احترام و درېږي ،له بده مرغه چې هغوی هم دا بلنه پر ته له کوم ځنډه ومنله.

هغه د نيمي شپې ميلمستيا ومنل سوه،اې زما د بدمرغيو کوربه! ته چيري يې چې زه دي په غيږه کې ونيسم؟

زه له هغې لمړۍ ورځې چې لا په ازل کې وم، د بدبختانو نماينده وم. کلونه بلکې پېړۍ ما د بدبختۍ درسونه هم هلته په لافاني نړۍ کې دې او هغه ته ور کول تر څو د نيستی د نړۍ خلګ زما څخه په تنګ سول او زه يې له خپلې نړۍ څخه و شړلم او د هستۍ د نړۍ بنديوان يې کړم. په دې وخت کې طبيعت زه تر لاس نيولی د هستۍ نړۍ ته را وستم او دلته يې د لنډ وخت لپاره و ټاکلم تر څو د لنډې مودې لپاره دلته خلګو ته د بدمرغۍ درس ور کړم. زما دنده ښايي دلته ډيره لنډ مهاله وي او زه به ډېر ژر بير ته د خپل مقر پر لور ستون سم او هلته به يوځل بيا خپله دنده پيل کړم.

راسئ اې اسماني پرښتو! راسی اې علوي مرغانو! راسی اې خدائي لښکره! راسئ ما وګورئ چي زه تر بل هر وخت اوس څونه په خپله دنده کي ځلېدلی یم ، زه دلته په څونه کامیابۍ توانېدلی یم چي خپلي سوځوونکي چیغي چي پر هستۍ پیل او نیستۍ پای ته رسیږي، په خلګو واوروم. وګورئ چي دا د خوښۍ او خوشالۍ څخه خالي سرای ما څنګه له بدبختۍ او بدمرغۍ څخه ډک کړی دی.

فرنګسیس ایا ته به پر دې بدبخته مهربانه سې؟.



## جواد فاضل

# دا ته يې؟

د ژوندون ميره اوږده ده ستړې کيږې
ګوتې د شونډو د شربت در سره واخـــله
د وصال ډيوه به مړه وي زه به نه يـــم
دا په ياد د محبت درسره واخـــــله

موږ د پردي توب په خيالونو کي آشنايان وو او د آشنايانو په ښار کي په يو بل پسي ګرځېدلو. هغه کوم ځای ؤ چي هر څه يې درلودل: ښکلا ،رڼا او خوښي.
هغه کوم ځای ؤ چي هر څه وو،خوښي او خوشالي وه؟.هغه کم ځای وو چي کله به ورځ وه،لمر له کوم احسان پرته ځلېدی او که به شپه وه، سپوږمۍ به پرته له کوم غروره موږ ته رڼا را کوله.
هلته زموږ پسرلي منی نه درلودی او هلته زموږ جنت د دوږخ همسايه نه ؤ ،هلته زموږ ځواني او مينه تل پاتې او لافاني وه ،بوډا يي چيري وه چي خپله تياره او ځورونکې سايه يې پر موږ غوړولې وای او زموږ د خوشالۍ

راز يې زموږ څخه غلا کړی وای، د فطرت څخه د چا په زړه کي وېره نه وه چي  خپلي سترګي يې له خپله تيرو څخه پټې کړي وای او يا دي يې د خوښيو رنګ د زمان د رنګ د بدلېدو سره بدل کړی وای.

هلته به څوک د غم په خاطر خواشيني نه ول،هلته به خلګو د غم په حالت کي خندل.

ايا ستا ياد دي چي ما او تا هلته د يو بل ملګري وو؟،تا زه غوښتلم او ما ته. ما او تا له يو او بل سره مينه لرله، ما او تا يو او بل ته  له بندګيه د خدائ تر پولي درنښت درلودی ،ته زما همدمه وې او زه ستا همراز ،ستا نوم زما مينه او زما نوم ستا مين وو .ايا ستا يادېږي چي هغه څنګه وخت وو؟.

♥♥♥

موږ نړۍ ته راغلو، د نړۍ په کش مکش کي را ګير سوو،چيري وو، چيري راغلو؟

هغه خوښي او خوشالي څه سوه؟

هغه توانايي او طاقت څه سو؟

زموږ باور او اعتماد څه سو؟ هغه موږ چي په بله نړۍ کي، د نباتاتو په نړۍ کي  ژوند کاوه. موږ د نباتاتو د تنو ښره وو. بيا موږ د سپين رنګ سره همرنګه د سره رنګ په شکل د حيواناتو په رګونو نوتلو څو  د خلقت نقاش کرار

کرار زموږ له وجوده نیستي هست کړه او زموږ له وجوده یې یو بل موجود په وجود را وستی،موږ په دې نړۍ کې لاسونه پښې او غوږونه درلودل ،له هغې ورځې څخه موږ بیل سوو،او یوه داسي مرحله په وجود راغله چي تا زه نه پېژندلم او ما ته ،ته هلته په هغه زانګو کې ارامه پر ته وې او زه دلته په دې زانګو کې .

اې زما اسماني ملګري!

څه وسوه چي ته دلته په مځکه کي زما سره پردی سوې؟ زموږ ملګر تیا دي ولي هېره کړه ؟.

ولي زموږ په منځ کي کوڅې، سړکونه او ښایي غرونه او دښتي راغلې؟ ته ولي نور ما خپل همدم او ملګری نه بولې؟.

# البر

## مادلن

هر کله چي مي خپله پخوانۍ مینه را یادوم ، بې اختیاره مي زړه خپه کیږي او د خواشینۍ احساس کوم.
ګواکي زما بې میني او نامهربانه زړه د یوې (۱۳) کلني پیغلي پر مرګ چي تر (۱۳)کلنۍ مخکي د قبر مېلمنه سوه، پر ځوانیمرګۍ ژاړي.
د هغي نجلی لپاره ژاړي کومه چي د مرګ په خوني پنجو کي را ګیر وه او په پرله پسې توګه یې نا ارامه چیغي وهلې او ویل یې :
مور! پلاره! اخیر تاسي ماته ووایاست چي البر ولي نه راغلی؟ البر د څه شي په خاطر نه راغلی؟.

♥♥♥

یو کال زه د هغوی له کوره څخه ولاړم.
تقدیر زماد اوسېدو ځای پر ښار له کوره لیري ټاکلی وو.

په ډېره تيزۍ سره مادلن د يو ناڅيزه شي په ځير هېره سوه ځکه زما و مخي ته د مادلن په څېر نوري ښايسته او په تول پوره نجوني راغلې. هغوې په مينه تر مادلن ښه پوهيدې .

♥♥♥

کله چي شپږويشت کلن سوم، بيرته د مادلن ښار ته راغلم او هغه ځای ته کوم چي شپاړس کاله مي پرايښی ؤ.

اتفاقاً په هم هغه کورکي مي کوم چي شپاړس کاله مخکي پکښي اوسيدلم ، واړول .

څنګه چي ډېر وخت تېر سوی ؤ نو مي لمړۍ هغه ځای و نه پېژاندی مګر سپين ږيري باغوان زه وپېژندلم .

دا ځل زه د باغ په پای کي اوسېدلم.

♥♥♥

يوه ورځ مي تصادفاً د هغه باغ په غولي کي سترګي پر يوه قبر و لګېدې چي د يوې زړې او کنډواله خوني په مخکي جوړ سوی ؤ او سر ته يې صليب ولاړ وو.

زه په قهر او غوصه د باغوان خواته ورغلم او په خوشکه مي ورته وويل :

تا ولي ماته هغه کور راکړی دی چي هدیره یې په منځ کي ده؟

هغه و مسل او په تحقیر امیزه لهجه یې راته وویل:

ښاغلې! په غوصه کیږه مه! دا هدیره نه ده. هلته له یوه قبر ځخه پرته بل قبر نسته. هغه هم ستاسو د مادلن قبر...

♥♥♥

ځوړند سر او غمجن زړه د خپل زاړه کور پر لور را وګرځېدم او په خپلو ترخو او غمجنو فکرنو کي ورک سوم.

ساعتونه ساعتونه د زاړه کور په غولي کي پر نمجنه مځکه کښېناستم. زاړه او شوړیدلي چت او چاودلو دیوالونو ته په چورت کي سوم، د مادلن ټول یادونه مي یو په یو را یاد سول.

په دې مي اعتراف وکړ چي تر نن ورځي نه ما له چا سره په رښتیا مینه کړې وه او نه له ما سره چا مګر له مادلن پرته.

♥

## شکسپیر

# زما ګله

اې ښایسته موجوده چي د الوتونکو په څېر د ښایسته ګلونو پر مخ کنښېنې ، ولي په دې پسرلي کي یو ځل بیا د ګلونو پر لور نه راځې.

ته ماته ووایه چي زما څخه څه ګناه سوې ده چي نور دي خپل نازدانه سترګي زما پر لور نه را اړ وې؟

په تا څه وسوه چي زما سره دونه سوړ رفتار کوې، دزړه مراندي مي را لړزوې او د نیا او مافیها مي د سترګو په وړاندي تیاره ګرځوې؟

ستا په خداي(ج) دي مي قسم وي چي زه ګنهکار نه یم . ایا دا تقدیر دی چي زما او ستا د بیلتون کوښښ کوي؟.

ستا لپاره زما مینه او مهرباني هره دقیقه او هر ساعت ډېرېږي او ورځ له بلي زما په زړه کي ستا د میني اور نور هم په غرغنډو کیږي مګر افسوس چي ته زما څخه فرسخونه لیري یې او د نور لیري کېدو په حال کي ئې.

نو بیا ولي ارامه ناسته ئې ؟.

اې ښایسته بلبله! ټول ګلان ستا د قدمونو د راتګ ټک ټک ته غوږ دي او په دې تمه یې خپلي سترګي پټې کړي دي چي ستا خوږې مچي د هغوی پر ښایستو باړخوګانو په مرموزه توګه و مښلي او د هغوی مات زړونه یوځل بیا پیوند سي.

جانانه! زما زړګیه، زما ارمانه او زما امیده! یوازي ته په دې ته ښه پوهېږې چي زما د ژوند خوښي او خوشالي یوازي هغه وخت ده چي ته زما سې او زه د تل لپاره ستا سم؟. که چیري داسي ونه سي نو دا ژوند به ماته یو تدریجي مرګ وي ،او ډیر وخت به لا نه وي تېر چي دا کوچنی او سپک وزنه مرغه(زما روح) به ډېر ژر د دې خټین قفس له منځه څخه د تل لپاره د ازادۍ پر لور والوزي.

اه ! نو له هرڅه څخه مخکي زما سپین کفن تېر کړئ او تاسو شاهدان واوسی چي زما په مرګ کي د هیچا لاس نسته.

زما د تور رنګه تابوت پر سر هیڅ ګل او خوشبویه شګوفه مه ږدئ ځکه زما په سینه کي یو داسي ګل دی چي نه خزانیږي ،زما دوستان هم مه خبروئ ځکه نه غواړم چي زما له معشوقې څخه په تنګ سي او زما سره یې په زړونو کي رخه پیدا سي.

# زما سره مینه وکه

اې زما محبوبه!

زړه مې غواړي چې یوازې زما سره مینه ولرې او د ځان پر لور مې په مینه او خلوص در وبولې.

هغه وخت چې زه ستا د مینې له شتمنۍ څخه برخمن سم نو نه د شپې له تیارې څخه ویره لرم او نه د طوفان له مستۍ څخه.

ځکه ستا مینې زما زړه لکه روښانه ورځ داسې جوړ کړی دی.

یوازې زما سره مینه وکه او په مینه او مهربانۍ مې پر خپل لور در وغواړه ځکه له دې پرته ښایي ژوند ماته هیڅ معنا ونلري. ستا مینه او محبت ماته زما لاره روښانه او پاکه ښکاره کوي.

نو څنګه چې زه مې ځان د نړۍ له نیکمرغه ترینو انسانانو څخه بولم، ته هم زما په څېر سه، یوازې زما سره مینه وکړه او په مینه او ناز مې پر خپل لور در و بوله.

# شارل بودلر

**مادام سابانیه ته!**

**نه پوهېږم چي دا اسماني نعمت به،**
**هغه نعمت چي زما په رګ رګ او نفس نفس کي یوازي د هغه یادونه سته، زما په نصیب وي او که نه؟**
**مګر د اوس لپاره دونه خوشاله یم چي یو ځل بیا سوګند یاد کړم:**
**هغه مینه چي ستا سره لرم...**
**دا سوځوونکی اور چي ته یې زما د زړه په کره کي هست کړی ئې، نسم کولای چي تاته ښکاره کړم.**
**په دې خاطر چي دا پټ راز او هغه ګیلې چي دلته پټې دي ...په دې خاطر چي هغه مهرباني او مینه چي د عبادت تر اندازې رسیږي تاته تشریح کړم، پر ځان لازمه بولم چي باید دا ووایم: ((کله چي زما وجود د هوس په تیاره او ستمکده کي راګیریږي تاسو...))**

تاسو مي چي زما د خيالونو د بتكدې زرين بت ياست مي ته راځئ او د هوس او ناولتيا ټول خيالونه مي له ياده وځي. دا په دې خاطر چي تاسو يوازي دا نه چي تر ټولو ښه ښځه ...مقدس ترينه او ترټولو سپيڅلې پرښته ياست بلكي هر وخت او هر ځای ته ماته يو سپيڅلی خيال او مقدس هدف ئې او ته زما د فكر كولو تر كچې ډېره لوړه ئې .

زه لكه يو بت پرست يوازي ستا عبادت كوم.

كله چي زما څخه يو خطا كيږي نو له ځانه سره وايم:

خدايه(ج)! كه هغه په دې خبره سي څه به وايي؟

كله چي يو ښه كار تر سره كوم نو له ځانه سره وايم چي دا هغه كار دی چي زه يې د هغې په خاطر تر سره كوم.

رنه دوریمو

# د مینې ګل

نن یو ځل بیا ستا د مینې یادونو غمجن کړم.
هغه خوشاله کوونکو یادونو چې ستا د پاکې مینې سره اړه لرې او له تیر وختونو څخه مې ملګرې دي.
دا یادونه لکه د یو مړه کیدونکي اور ایرې دخاموشه کېدو په حال کې وې مګر یوځل بیا په تازه کېدو سوې.

♥♥♥

ښه پوهېږم چې تاهم تېر وختونه نه دي هېر کړي.
هغه ورځې چې زما سره دې مینه درلودله او په خپله مینه دې زه امیدواره ساتلی وم.
ستا یاد دي چې یوه ورځ دې یو ښایسته ګل راته په ډالۍ کې رالېږلی ؤ؟
یو کوچنی ښایسته سور ګل چې زما د سپېڅلي او ستاهوس پرسته مینې ښکارندویي یې کول.

♥♥♥

راته لیکلي دي وه :
قسم په لمړۍ مینه چي تر هرڅه سپیڅلې وي
ستا زړه به ښایي همیشه زما د پاکي میني مجمر وي
او ستا مینه به ښایي د تل لپاره زما د ژوندانه د شمعي یوازنۍ رڼا وي.
زما زړه له هغو اوبو اوبه سوی دی د کومو چي چینه ستا په زړه کي ده.

♥♥♥

مګر افسوس چي تا خپله وعده هېره کړه...
که څه هم چي زما مینه دي د خپل ژوند یوازنۍ ډېوه بلله ،خو بیا هم تا هېره کړه.
خپله مهرباني دي زما څخه و سپموله ،او زما هیلي او ارزوګاني دي پر مځکه وویشتې.
اې کاش چي ته زما په ژوند کي نه راتللای او زما خیالونه او فکرونه دي د ځان نه ګرځولای.

♥♥♥

نن هغه سور ګل چي تا را کړی و راسره دی.
او دا زما د میني یوازنی یادګار دی .

نن دا ګل د هغې لمړۍ ورځې تازګي او ښکلا نلري .
ځکه ستا مینه د هغه ښکلا او تازګي وه چې نور وجودنلري.

♥♥♥

زما زړه نن له دې وچ سوي ګل سره مینه لري.
ځکه هغه مړې سوي او سپېڅلي خاطرې د دې ګل په پاڼه پاڼه کي ښخي دي.
دا ګل ،زما د میني ګل ؤ...
مګر افسوس چي په څونه تېزۍ ستا د بې وفايۍ خزان هغه له ځانه سره مړاوی کړ.

♥

## له چیني ادب څخه

# لمر لویدل

لمر له څرکه پر ژړ سوي چمن لګیږي او چمن ژړه لمبه کوي.دا دی اوس یې تاب سهیږي او له ریږد سره یوځای د غره شاته فنا کیږي.

په اسمان کي لا پوره تیاره نه ده ،روښنایي لا تر دې دمه سته ، دا یو ښکاره حقیقت دی چي د غره شاته ورځ په پیلېدو ده .

هو، نن د خزان د سنګار بکس څخه خپل ځان سمبال کړی دی.

د ورځي وروستی باد د خزان له زوره وچ او ژړي سوي پاڼي په مدار مدار د د رختو له ښاخو د مځکي پر لور راشړي .

د لک لکي ماده چي خپله جوړه يې له لاسه ورکړې ده په غم او خپګان د خپلي جوړۍ پر لور راستنيږي، د خپلي جوړې د راتګ بږغ ته غوږ غوږ ده او د راتګ لاره يې څاري مګر هغه به هيڅکله بير ته را و نه ګرځي .

په همدې شېبه کي تورو کارغانو پر وچو ښاخونو د خزان د راتلو په خوښۍ کي خپل د کاغ کاغ سندري تر اسمانه رسولي دي .

**کريستوفر مارلوف**

# د شپانه مينه چې

اې زما محبوبې! زما پر لوري راسه او زما بې رنګه مينه قبوله کړه تر څو د غرونو په منځ کې د درو پر سر، د چمن زارو په منځ کې،د ګلانو څخه د ډکو تپو په منځ کې د رڼې او ځلالې چينې په اړخ کې زما د شپيلی و شرنګ ته ،په نڅا و ناڅې.

که اوس هم ته دې ته واداره يې،نو زما پر لوري راسه او زما سپېڅلې او ساده مينه قبوله کړه.

♥♥♥

موږ به پر خړو او غټو پرښو کښينو او د هغه ځوان او تنکيو شپنو او رمو سيل به کوو کوم چې شپيلی په لاس وري په اوږو کې په ناز ناز خپلې رمې د شنو چمن زارو منځ ته را شړي. موږ به د هغه نويو زيږېدلو کوچنيو وريو په ناز ناز امبا اورو چې په خپلې مورجانې پسې يې په وهې.

موږ به له اوبو څخه د ډکو سیندونو پر غاړه د ابشارونو او شور شرو په څنګ کې، د یو بل په غېږ کې د پسرلني ښایسته مرغانو په غاړو او نارو ویده کیږو او را ویښیږو. زه به ستا بستر د ښایسته او خوشبویه سرو ګلونو څخه ډک کړم، یوه ښایسته ګل دسته به ښایي ستاسو سرته چې د پیچک په تنابو به تړلې وي کښېږدم او تا به لکه اسماني سپوږمۍ چې د ستورو په منځ کې را ګیر وي، په هم هغه انداز د دې ګلونو په منځ کې پرې باسم.

بیا هم که ته دې ته تیاره ئې نو راسه زما اسماني مینه په خپل لاهوتي حسن قبوله کړه.

♥♥♥

زه به ښایي تاته له اوړی څخه ساده او سپیڅلي کالي جوړ کړم،او تاته به ډېر ښایسته بوټونه چې طلایي ګلان به پر ټکوهل سوي وي، جوړ کړم.

زه به یو داسي کمر بند درته جوړ کړم چي شاوخوا به د لاله په ګلونو پوښل سوی وي، ښایي د کلي ماشومان به د یادګار په توګه د هغه لپاره د سیند له غاړي ورته ګوجي را ټول کړي او زه به د یادګار په توګه په هغه کي د سیند مرجان ټک وهم . د کلي ماشومان به د پسرلي په هر سهار ښایي تاته د ښې ورځي د درلودلو په موخه له اتڼ سره د ښه ژوند یوه ښایسته سندره زمزمه کړي .

**کوټه**

# له الام و ر تر ځه

نن وروستۍ ورځ ده چې زه ستر ګې رغړوم، نور به زما ستر ګې دغه ځلېدونکې لمر و نه ويني. ډېر ارمان چې نن هم ورځ تياره ده او لمر نه ښکاري، اې خلقته! ته ولې نه خواشينې کېږې ځکه ستا زوی، ستا دوست او ستا ملګری نور مري.

زما نازنيني شارلوت! کله چې انسان مري نو هغه د دې تصور نسي کولای چې مرګ به څنګه شی وي؟ ايا هغه به خوب ته ورته يو حالت وي که څنګه؟ دا له تصوره وتلی يو حالت دی.

اخيري ورځ! دا د اخيري کليمه ماته هيڅ مفهوم نلري. نن دا دی بې خاره ناست يم مګر سبا به بې حر کته مړ وجود پروت يم. مرګ څه شی دی؟

هر کله چې مرګ راياد سي، ډول ډول انځورنه مي مخې ته راسي. ما د ډېرو خلکو مرګ ليدلی دی، دا انسان څونه بې وسه دی، د خپل پيل او پای څخه نه دی خبر.

همدا اوس او همدا شېبه زه ستا يم مګر له لږ ځنډ وروسته به زه او ته د تل لپاره له يو بل څخه جلا کېږو.

نه شارلوت! دا به امکان ونه لري چې موږ له یو بل څخه بېل سو. دا څنګه امکان لري چې زموږ مینه دې نابوده سي؟ موږ به تل تر تله ژوندي یو ،نیستي ...دا نیستي مانا څه؟ زه د دې بې مفهومه کلیمې په مانانه پوهېږم.

اه شارلوت! مرګ او په تورو ،یخو او تنګو خاورو کې ښخول. په ځوانۍ کې مې مهربانه ملګرې درلودې،دا ملګرې مې مړ سو ،د جنازې مراسیمو ته یې ورغلی وم. په خپلو سترګو مې ولیدل چې قبر یې وکېښ او د هغه بې ساه وجود یې پکښې ښخ کړ. کله چې یې خاوري پسې ور اچولې، زه یې څنګ ته ناست وم.

د هغه تابوت یې قبر ته ور تا کړ. کله چې یې لمړۍ بېلچه خاوره ورپسې ور واچولې، له تابوته یو شوم بږغ پورته سو ...بیا یې خاوري ور واچولې...اواز کرار کرار کښته کېدی څو ټول قبر ډک سو. زه د هغه د قبر څنګ ته په خاورو کې کښېناستم ،ومې ژړل مګر زړه مې له درده خالي ؤ.ځکه هغه څه چې مې په وړاندي تېرېدل، نه ورباندي پوهېدم او د مرګ په مانا مې سر نه خلاصېدی؟

له یخ ،تنګ او تیاره قبره چې زما هم په تمه دی نه وم خبر.

اه! ومې بخښه! ومې بخښه! تېره ورځ، هغه شپه زما د ژوند اخیري شپه وه.زما درنې پربښتې، تېره ورځ زما زړه دا و منل

چې ته زما سره مينه لرې. تر اوسه مې ستا د دوو ښايستو شونډانو توښ په ياد دى.

زما زړه نن د مينې په اصلي مفهوم پوه سو...

اه شارلوت! زه په دې ښه پوهېدم چې مينه را سره لرې. له هغې لمړۍ ورځې راهيسې چې ستا ښايسته سترګې زما له سترګو سره مخ په مخ سوې او ستا لاس مې په لاس کې ونيوى، زړه مې ستا د مينې او مهربانۍ زيرى را کړ. مګر هر وخت چې به ستا څخه ليرې کېدم او البر به مې ستا سره ليدى نو زړه به ستا پر مينه بدګمانه کېدى او وينه به مې په رګونو کې پر جوش راتله.

ايا هغه ورځ دې ياده ده چې ما او تا سره وليدل، تا زما سره يوه خبره هم ونه کړه، ما ته دې د جوړ په خير لپاره لاس هم را نکړ مګر د ګلانو يوه ګېډۍ دې را وليږله. زه د هغو ګلانو په مخکې پر ګونډو سوم او په ځار ځار مې وژړل. دا ګېډۍ زما لپاره ستا د پاکې مينې مظهر ؤ.

په دې نړۍ کې هر څه له وخت تېرېدو سره بدليږي مګر هغه سوځوونکي ژوند چې ستا له لېږدونکو شونډانو څخه زما په وجود کې پيدا سو، تل پاته او ابدي دى. هغه تر اوسه زما په وجود کې بليږي او تل تر تله به زما په وجود کې په غرغنډووى.

شارلوت زما سره مينه لرې، دا لاس د هغې د غاړې هار (اميل) سو.

دا شونډان د هغې لړزېدونکو شونډانو، دا خوله د هغې نازنيني خولې او دا وجود د هغې لاهوتي وجود ته ور نږدې سو. اه شارلوت! ته زما يې. څه چي ته د البر ميرمن سوې؟. ته زما وې او زما يې او زما به اوسې مګر په تصور نه په حقيقت کي.

نو څه چي البر ستا څښتن دی، ډېر ښه، که په دې نړۍ کي ستا سره مينه، او له البر څخه ستا جلا کونه کومه ګناه وي، نو زه خپله خپل ځان د دې ګناه مرتکب کوم. ځکه ما د دې ګناه خوند کتلی دی او د هغې ګناه څخه مي زړه ژوند او وجود مي طاقت مومي مګر له دې ساعت څخه وروسته ته زما ئې شارلوت! ته زما ئې شارلوت! زما مخاطبه يوازي ته نه يې بلکي زه مي خبري تا او د کائيناتو خدای(ج) ته هم کوم، هغه به زما لاس نيسي ځکه هغه د هغه پر لور هر غځېدلی لاس يوازي نه پرېږدي او خپله يې نيسي. کېدای سي چي ته يو ځل بيا راسې او کله چي ته بير ته راځې، زه به دي په ډېره تلوسه ښه راغلي ته دروځم، تا به په غېږ کي ونيسم، د نړۍ له خدای(ج) څخه به مننه وکړم او تا به د تل لپاره په خپله سينه پوري جوخته وساتم.

هغه څه چي زه وايم، کوم خيال او خوب نه دی. هر څونه چي قبر ته نږدې کېږم، هغونه مي سترګي خلاصيږي. موږ به يو بل يو ځل بيا وينو. موږ به يو ځل بيا د يو بل کيږو.

په هغه نړۍ کي به ستا مور يو ځل بيا وينم او خپل د زړه راز به ټول ور ته وايم.

## الفونس کار

# ماګدولین

## له استفن څخه ماګدولین ته

ماګدولین! پوه سوم چي مینه را سره لرې. ژوند ثونه حیرانوونکی او تېر ایستونکی دی. ما هیڅ ورځ دونه ښایسته او په زړه پوري نه وه لیدلې لکه نن سهار چي زه له خوبه را پاڅېدم.هغه خوښي چي زه یې د خپل زړه له تله حسوم، په هغه کي ستا انځور له ورایه وینم. که مي چیري ستا زړه وړونکی بڼغ لکه ښایسته او خوشبویه ګل په ګلدانۍ کي په یاد نه وای نو ته باور وکړه چي ما به فکر کولای چي زه خوب وینم.نن ورځ ښایي ماته یوه اوږده او په زړه پوري ورځ وي.ای کاش چي کولای مي سوای هغه ورځي او وختونه مي چي ستا او ستا له دیدن څخه یې لیري تیروم، د خپل ژوند له پاڼو پاکولای سوای.

ماګدولین! ما هیله درلودله چي هرڅونه ډیري آسانۍ لاس ته راوړم او ستا په مخکي یې کښېږدم.

زه اوس افسوس کوم چي ولي خلقت زه له خپلو ټولو ښېګڼو بې برخي کړی یم او ولي ما دا ټول څه په لاس رانه وړل .

څونه به ښه وای چي ما هم ستا په څېر ښکلې او جذابه څیره درلودلای او څنګه چي تا زه خپل ځان ته در مایل کړم،ما هم ته خپل ځان ته را مایله کړې وای.

زه په دغو ټولو شیانو کي له زړه څخه پر ته بل څه نلرم چي تاته یې وړاندي کړم. زما په ژوند کي زما ټوله هستي او نیستي همدا یو زړه دی. دا کوچنۍ ډالی زما څخه قبوله که او و وایه چي دا کوچنۍ ډالی دي خوښه ده.

راته و وایه چي مینه را سره لرې. ستا د خولې یو لفظ زما ټول ژوند پر بل مخ اړوي، کولای سې چي زما د ژوند منی په پسرلي بدل کړې او هیلي مي په حقیقتونو واړوې.

# له استفن څخه ماګدولین ته

ماګدولین ! زه ډېر در څخه خوابدی یم ځکه، ته ولي ماته لیک نه لیکې؟ مګر په فارغو اوږدو وختونو کي چي د خیالونو په جالو کي را ګیر کېږې، د دې فکر نه کوې چي کاش دي ملګري ته یو لیک ولیکې؟

دا ماته ډېر د نېکمرغۍ ځای دی چي ستا له لوري یو څو کرښي او لاس لیک له ځانه سره د یادګار په توګه ولرم، دا په دې خاطر چي کله له نړۍ څخه ستړی کېږم نو به په هغوی خپل د زړه دلاسا کوم.

په دې ښه پوهېږم چي تا څه شی د لیک له لیکلو منعه کوي. هغه ستا احتیاط دی چي له کوچنیوالي دي عادت دی.

تاته ویل سوي دي چي و هغه ځوان ته چي مینه ورسره لرې لیک لیکل ناروا او بد کار دی مګر په دې پوهېږې چي دا قانون د هغه ښځو لخوا را منځ ته سوی دی چي د میني له نوم سره ان اشنا هم نه دي.همدا بدمرغه قانون دی چي انسانان بې وفایۍ او خیانت ته واداره کوي.

ځکه کله چي یوه ښځه یو چا ته وایي: ((مینه درسره لرم)) او وروسته هغه ته د لیکونو ځواب نه ورکوي، نو سړی له هم هغې لمړۍ ورځي څخه دا احساس کوي چي تیر ایستلی یې دی.

زه دا ناولې پدیده نه یوازې دا چې یو غلط او بې مفهومه کار یې بولم بلکې یو ستر خیانت او نه بخښونکې ګناه یې ګڼم. زموږ ئې د خلکو په خبرو او قوانینو څه؟

ماګدولین! هیله کوم چې د هغوی خبرې پرېږده. موږ ولې باید له هغو کړنو څخه چې زموږ دواړو خوښې پکښې وي، سترګې پټې کړو او که چیرې ته فکر کوې چې باید د هغوی خبرې ومنې، نو ډاډه اوسه چې نه زما سره مینه کولای سې او نه ما ته لیک لیکلای سې.

نو پوهېږې چې څه به پیښ سي ؟

یوجزئې پښېمانې او ناکامې،هغه وخت چې زموږ ورېښته سپین، احساسات مړه او ځوانې پای ته ورسیږې، نو پوهېږې څه به پاته سي؟ د پښیمانۍ اوښکې او د زړه اور. هغه وخت ښایي ته پر خپلو او زما پر تیرو غمونو له اوښکو تویولو پرته بل هیڅ و نه لرې او هغه وخت به ته یوازې د یوې شپې ځوانۍ هیله ولرې چې په هغه کې مینه وکړې او له خپل مین سره رازو نیاز وکړې.

هغه وخت ښایي پوهه سې چې وجود دې دتازه او غوړېدلې ګل په څیر وو چې لمر هغه ته خپله رڼا ور نکړای سوای او پر ته له ځنډه خزان او پاڼې پاڼې سو.

# له ماګډولين څخه استفن ته

استفن! دا دي څه وکړل؟ دې مچې دي زه ډېره وارخطا او و وېرولم که څه هم چي تا، په چم چم چي زما رضا هم نه وه، مچ کړم مګر بیا مي هم له ځانه سره ښه ټينګ جنګ وکړ.

که چيري موږ په هغه وخت کي چا ليدلای نو نور به مو څه عزت پاته سوی وای. نور به ماد ژوند تر پايه د خلګو منځ ته د راتلو زړه نه وای کړی. د شپې چي کله خپلي خوني ته ولاړم او د خلګو خبري مي چي زموږ په ليدو به يې کړي وای د سترګو په وړاندي مجسمي کړې، نو يو ډول ولړزېدم.

د خپلي عمه نصيحتونه مي چي زه يې کوچنۍ رالويه کړې يم، راياد سول نو ومي ژړل. داسي مي کړه چي روح مي لړل سوی دی. زه دې ته حيرانه وم چي څنګه خدای(ج) ته مخامخ ودرېږم او لمونځ وکړم او خپل لاسونه د هغه پر لور ور اوږده کړم.

يو ځل بيا مي په ژړا پيل وکړ. دونه مي وژړل چي نور له ځانه سره په دې ډاډه سوم چي اوس مي نو ګناه بخښل سوې ده.

# له استفن څخه ماګدولین ته

اه ! دا مي څه وکړل؟ ما پر خپلي خوښۍ یو نه زغمېدونکی وار وکړ.ماګدولین! ما و بخښه! دا مچه چي ما ستا له تندي څخه واخیسته، یوه داسي مچه وه لکه یو ورور چي یې له خپلي خور څخه اخلي. که رښتیا را باندي وائې، دې مچي تر تا زه ډېر ناکراره کړم مګر دا ستا مسئولیت ځ چي زه دي باید داسي یوه ناوړه کار ته نه وای پرې ایښی. ښه به دا وي چي ووایم دې مچي زما په وجود کي هیڅ انګېزه نه ده کړې او ما هیڅ حس نه دی کړی چي ما کوم څوک مچ کړل که څنګه؟.

لکه ما چي یو بې روحه د مر مرو مجسمه مچ کړې وي یا لکه یو بې روحه او یخ سوی وجود چي مي مچ کړی وي. که چیري زه پوهېدای چي هغه کس چي زما پر سینه یې سر ایښی دی دونه بې تحمله او نازک دی چي زما د میني هیڅ احساس نه کوي او د هغه لاس زما په لاس کي یوازي د ویري په خاطر دی نو ته باور وکه چي ما به هغه لکه بې وفا او بې باوره مار چي په دوستۍ یې هیڅ بروسه نسته، له ځانه څخه په ډیري چټکۍ لیري کړی وای.

ماګدولین!زه ستا مین یم. که چیري په دې پوه سم چي زما مینه په بشپړه توګه یو طرفه ده او ستا زما سره ملګر تیا یو ساده دوستي ده نو ته باور وکړه چي نور به زه یوازي دا نه چي ستا سره هیڅ خبري ونکړم بلکي په ټول عمر کي به بیا تاته خپل مخ در و نه ښئیم.

زه به دي نور هیڅکله له ښکلي او ښایسته مخ څخه مچه وانخلم ځکه مینه د زور کار نه دی او مینه له هر ډول هوس او شهوت څخه پاکه ده.

# له ماکډولین څخه استفن ته

زما ګرانه دوسته! لیک دي زه ډیره زهیره او خواشینې کړم. زه نه پوهېږم چي څه شی د دې لامل سو چي ته زما پر مینه شکمن سې؟.

زه ډیره حیرانه یم چي ستا څخه دا بدګماني څنګه لیري کړم؟

ایا حتماً باید درته و وایم چي زه ستا سره تر خپل روح زیاته مینه لرم او خپله خوښي ستا په خوښۍ پوري تړلې بولم.

استفنه! تا چي خپله دا حس کړې ده نو بیا ولي ځان دونه ناراحته کوې؟.

ما و بخښه! یوه نجلۍ چي مور یې په ماشومتوب کي له لاسه ورکړې وي، نو باید له داسي شیانو څخه و وېرېږي او هر څه ته د احتیاط په ستر ګه و ګوري. له دې وروسته زه کوښښ کوم چي پر تا خپل باور وساتم. زه په دې هیله یم چي د واده په شپه مي په حقیقت کي یو سپېڅلې او پاکه میرمن خپل څښتن ته ډالۍ کړم. که چیري ته زما د پت او عزت ساتنه وکې، دا کړنه دي بې ځایه نه ځي ځکه دا زه تا ته ساتم.

**ماکډولین**

# له ماګډولین څخه استفن ته

زما ګران ملګرې!

له کومي ورځي چي ته تللی يې، تر اوسه زه چي وايم يوه پيړۍ تېره سوې ده مګر پر دې سر بيره تر اوسه مي د هيلو او اميدونو باغ لا ترو تازه دی او د هيلو غوټۍ لا غوړيږي. لمر له خپل ټول حرارت سره ځليږي، ټول کائينات خوښ او خوشاله دي. يوازي زه يم چي غمجنه او له ليري والي دي خسته يم.

استفن! له څه وخته دي ليک نه دی راغلی. ستا يوازنی يادګار ستا وروستي ليکونو دي چي تر اوسه يې راسره ساتم. نه پوهيږم چي هغه مي څو ځله لوستلي او مچ کړي دي.ر ښتيا ته څنګه کولای سې چي پر ته له ما ژوند و کولای سې؟. څونه هيله لرم چي همېشه زما په څنګ کي واوسې او زه دي له بې رنګه او سپېڅلي ميني څخه برخمنه و اوسم.

تېره شپه سخت باد او باران ؤ. زه تالندي او بريښناو له خوبه را ويښه کړم ،که ګورم ژونويا زما کټ ته نږدې ولاړه ده او له ډيري ويري ژاړي. ډېر کوښښ مي وکړ چي هغه دلاسا کړم.کومه ګټه يې و نه کړه. په دې

وخت کي مي له ځان سره وویل: کچیري اوس زموږ پر کور تندر راولویږي نو استفن به څه پوه سي چي ما د مرګ په وخت کي هم هغه یاداوه؟ نو سمدستي ولاړه سوم لیک مي درته ولیکی.

وروسته ولاړه سوم کړکۍ مي پرانیستله چي یو څه هواخوري وکړم او ویره مي له وجوده ووځي.وروسته پر ځنګنو کښېناستم او لاسونه مي خدای(ج) ته پورته کړل چي موږ د طبیعت له قهره و ساتي او ما ستا په خاطر ژوندۍ و ساتي، که چیري مړه سم او له دنیا ولاړه سم، تاته صبر درکړي او سر دي له هري بلا په امان و ساتي.

ټوله شپه مي په لمانځه او دعاوو پر سر واخیسته څو طوفان ارام سو، باد او باران و درېدی او له هغه جوش او خروښه چي درلودی یې، ولویدی. د خدای(ج) شکر مي وکېښ او د آرامۍ احساس مي وکړ.

سهار چي مي کله خپله وصیتنامه و لوستله، په هغه کي مي ستا څېره راته انځور سوه. نو یو دم ژړا ونیولم. دونه مي وژړل چي د اوښکو له لاسه مي دستمال لوند سو.

استفنه! زما دروند دوسته او زما دروند څښتنه! که چیري زه ستا تر مخه و مرم او زما د وصیت نامې پر اساس زما ټوله شتمني تاته درورسیږي نو ایا ته به دا و

مني؟ او ايا ته به ددې شتمنۍ په قبلولو زما روح خوشاله کړې؟.

اه! ډېره بخښنه غواړم چي زه تاته دا ډول خبري کوم. زه به نه مرم. دا دی اسمان صاف دی او ورځ ډېره ښايسته ده. ما دي ماغزه ناحقي په دې خبرو در خراب کړه.

پلارمي د خپلي مهربانۍ له مخې ډېره مرسته را سره کوي. د هغه په مرسته مي د ښه راغلي تالار چي کله کله به زه او ته هلته کښېناستو بير ته له سره ډېر ښايسته جوړ کړی دی مګر ستا ځای اوس هم هلته خالي دی. ايا زموږ د ورور اوژن که څه هم هغه يوازي ستا ورور دي مګر زه هم هغه خپل ورور بولم، ليک در وه رسيدی که يا؟.

ډېره هيله لرم چي له هغه سره په تول پوره خورولي وکړم. هغه پر ما ډېر ګران دی. هغه ته مي يوه ډېره ښايسته د پېسو کڅوړه جوړه کړې ده.هيله کوم چي کله هغه ته ليک ليکې، ما ورته د يوې مهرباني خور په څېر معرفي کړې. له دې ليک سره مل يوه ډالۍ هم درلېږم. دا يوه ګوتمۍ(انګوشترۍ) ده چي ما د خپلو ورېښتانو څخه درته اوبدلې ده.

رښتيا استفنه! ښه سو چي را ياد مي سول. تا بايد له يوې ډېري نيک اخلاقه او ښې نجلۍ سره اشنا کړم

او هیله لرم چي ته د هغې یو ښه دوست سې. سوزان در یادوم چي زما ډیره نږدې ملګرې ده.

هغه ډېره سپیڅلې او ساده نجلۍ ده. هغه ډېره هوښیاره هم ده او ډیره جالبه لا دا ده چي هغه ډېره ښه انځور ګره ده. هغه په نڅا کي ساری نه لري اونه دونه په شرنګ او سوز پیانو ږغوي چي هغه د چا خبره د هوا مرغان لا ورته ناڅي. تر ټولو مهمه خو لا دا ده چي هغه ستا له میرمني او میني ماګدولین سر بې کچي زیاته مینه لري.

د لیدو په هیله، استفن! د دې پرته چي درته په دې لیک کي ولیکم مینه درسره لرم نورڅه نه درته لرم

ماګدولین

# له استفن څخه ماګډولین ته

زما ښایستي او ګراني ماګدولین! ستا خوږ لیک راته را و رسېدی. له مهربانۍ او میني څخه دي مننه. کومه نوې خبره نه درته لرم او کوم زیری نه لرم چي تاته یې واوروم. د بخت پرښته لا تر اوسه ماته نه ده را رسېدلې مګر زه له صبر او امید څخه پر ته بل څه کولای سم؟ مګر هغه ورځ نه ده چي د امید ښایسته ناوې به ماته له زیري سره مل راځي.

د خپلي ملګري له را پېژندني څخه دي ډیره مننه. زه د هغې دوستي په درنښت سره منم مګر په دې خاطر نه چي هغه یو ښه انځور ګره، تکړه نڅاګره او یا ډېره هوښیاره نجلۍ ده بلکي په دې خاطر چي هغه ستا ملګرې ده، ته له هغې سره مینه لرې او هغه ستا سره.

تا راته لیکلي چي (( که چیري زه مړه سم او له وصیت سره مي سم ټوله شتمني تاته پاته سي نو ته به یې قبوله کړې؟.))

نه پوهېږم چي له دې لیونتوب څخه دي هدف څه دی؟ ته څنګه فکر کوې چي زه دي ستا له مرګ

وروسته ژوندی و اوسم. دنیا او ژوند به له تا پرته ماته څه ارزښت ولري؟ ته زما د ژوند سرمایه او د سترګو دید ئې.
ته زما د ارمانونو ډېوه ئې او که چیري خدای(ج) ناکرده ته و مرې نو زه به هم له ځنډه پرته خپل ځان ووژنم، په بله نړۍ کي به د خدای(ج) په مخ کي ستا سره غاړه غړۍ کېږم اوهلته به خپلي ټولي ناکامۍ په بریالیتوبونو بدلوم .

اه ماګدولین نه پوهېږم چي دا څه کیږي؟ ښایي چي موږ ته به په ازل کي همداسي لیکل سوي وي.

زما د ورور اوژون لپاره دي له ډالۍ څخه مننه کوم او ماته چي دي کمه ګوتۍ لیږلې وه، له هغې هم په زرګونو واره مننه! ما هم له دې لیک سره مل یوه ګوتۍ درلیږلې ده چي زما د سر له وریښتانو څخه مي اوبدلې ده او ها ستا رالیږلې ګوتې مي له په ګوته کولو څخه مخکې په سلاهاوه واره ښکل او پر سترګو ومښوول. بیا هم مننه.

استفن

# له استفن څخه ماګډولین ته

ماګدولین زیری! ښایي سبا له دې ځایه ولاړ سم. دا دی بالآخره دنیا ماته و خندله. د اوس لپاره په ډېره کمه تنخوا دنده راته پیدا سوې ده مګر قول یې را کړی دی چي هره میاشت به مي تنخوا یو زر او پنځه سوه فلورینه را لوړ وي.

او ها، یاد دي وي چي اته میاشتي وروسته به که خدای(ج) کول په قزار کلیسا کي څنګ پر څنګ ولاړ یو او له کشیش څخه به د یوځای کیدو خطبه- که خدای(ج) کول- اورو.

کوښښ به وکړم چي دا اته میاشتي په ښه توګه راباندي تیري سي، او په دې اتو میاشتو کي به زما یوازنی ډاډ او باور ستا مینه وي. نن ماته یو له خیر او بر کته ډکه ورځ وه. د تل په څېر مي ښوونکي ته ورغلی وم. هغه ډاډ راکړ او په مهربانۍ ئې وویل:

تاته مي یو ښه او وړ کار موندلی دی مګر ډېر ژر دي باید کډه ټوله کړې او سهار وختي دي د نوي ماموریت پر لوري و خوځیږې. هغه په دې عقیده دی چي که څوک غواړي په پوهنتونونو کي کار وکړي، هغه باید له ډېره

کوچني ځایه څخه کار شروع کړي تر څو د عروج معراج او د شهرت اسمان ته ورسیږي .

رښتیا، زه څونه بختور یم،اوه رښتیا ایا نیکمرغي له دې پرته بل شی ده چې انسان خپلو هیلو او ارزوګانو ته و رسیږي.

ماګدولین! زما د نوي دندي ځای ستاسو له کوره څخه ډېر لیري نه دی. بیخي درې یا څلور کوره به سره لیري وي. هو رښتیا، زموږ له خپله کوره او ستا د ملګري سوزان له کوره به هم همدونه فاصله لري. په دې کي د خوښی خبره داده چې یو څه به یو بل ته نږدې یو.

نور دي نه مزاحم کیږم ځکه چې کډه او شیان مي باید ژر ټول کړم او حرکت وکړم. نور لیک پر دې ځای پای ته رسوم.

**استفن**

# له ماګډولین څخه استفن ته

ښاغلې ښوونکې! رښتیا بیخي بې انصافه ئې. ته وائې چي زه له دې بیریږم چي د غاښ په کښلو به بد رنګه سم.

نه داسي نه ده. څنګه چي پوهیږم مینه را سره لرې نو له هیڅ شي نه بیریږم. ته د تقدیر کارونو ته ګوره د غاښ درد مي ښه سو،ځکه ډاکټر راته وویل چي نور یې کښلو ته ضرووت نسته.

د یکشنبې په ورځ ښایي د خپلي عمه پولین کره ولاړه سم. ته هغه پېژنې او کولای سې چي هورې راسې. په ظاهره کي به داسي ښکاره سي چي ته تصادفاً هلته راغلی یې مګر موږ به و کولای سو چي یو بل و وینو او یو څه خبري سره وکړو.

د خدای په امان ګرانه! ملګرې مي سوزان په وره کي ولاړه ده چي ژر مي کالي واغوندم او ور ووځم. هغه په پرله پسې توګه پښه پر مځکه وهي او نارې وهي چي: (( ژر سه او ژرسه!)) هغه غواړي چي زه پرا ته ورسره ولاړه سم. استفنه بخښنه غواړم د لید و په هیله.

**ماګډولین**

# له استفن څخه ماګډولین ته

ته زما د خیالونو او فکرونو یوازنۍ سرمایه ئې. تل ستا په اړه فکر کوم. زما مینه یوازنۍ پرده ده چي د ځان او ستا د ژوند انځور پر هغه ترسیموم. تل دي ښکلی او په زړه پوري تصویر زما د سترګو په وړاندي ناڅي.

ماګډولین! ته زما نامزاده ئې. نو هر نصیحت چي درته کوم یوازي ستا د ښه والي او دوستۍ په خاطر يې کوم. زه غواړم چي ورځ ورځ،ساعت ساعت ، دقیقه دقیقه او ان چي ثانیه ثانیه مي زموږ د ژوند ښه تېرېدو په خاطر قرباني کړم نو په دې خاطر که ځني سختي خبري درته لیکم و مي بخښه.

غواړم چي دې ته دي فکر راواړوم چي ستا په زوره خنداوو په نندارتون کي د ټولو سترګي ناڅاپه ستا پر لور اړولې، سترګي به يې ستا پر لوڅو بازوګانو او ښایسته څېره لګیدلې او ته يې د خلکو په وړاندي یو سپکه او بدکاره ښځه ښکاره کولې.

ماګډولین!ایا پوهېږې چي د یوې ښځي لپاره تر ټولو ښایسته او ښکلې جامه کومه ده؟.هغه د پت او عزت جامه ده. هغه د وقار او د برم جامه ده.

کله چي کومه نجلۍ د یو چا په نوم کیږي نور باید د پردیو خلکو په مخکي په بېخارۍ وه نه ګرځي، ځکه نور د هغې عزت ټول د هغې په څښتن پوري اړه لري. که چیري هغه هر ښه او بد کار کوي نو خلک یوازي دا وائي چي دا خو د پلاني میرمن ده. نو کله چي یو نامزاده سوې میرمن کوم کار کوي، لمړی باید چي د هغه په اړه ښه فکر وکړي چي څه شی، چیري کوي.

ماګدولین ته هغه ګل ئې چي باید له ښایسته بویه څخه دي زه ګټه پورته کړم. ستا لپاره یوازي دا بسنه نه کوي چي ته له ما څخه پرته له بل چا سره مینه ونکړې. ته باید چي کوښښ وکړې چي بل څوک هم له ما څخه پرته ستا سره مینه ونکړي.

نو د دې لپاره چي زما سره له خیانت او ژوند خرابولو څخه دي مخ نیوی کړی وي، باید چي د نورو له نظره ځان پټ کړې. کله چي ستا سره کوم پردی څوک کښیني، ستا پر ښایسته او ښکلې څېره یې نظر لویږي او ستا له خوندور خبرو څخه خوند اخلي، دا پخپله زما سره یو ستر او نه بخښل کېدونکی خیانت دی.

او ته په دې خیانت کي له هغه خاین سره شریکه ئې.

ماګدولین! ایا تاته دا ښه خوند نه درکوي چي د
واده په ورځ چي کله ته د تل لپاره زما کېږې ماته په غرور
او ډاډ ووایې چي ته یوازنی سړی یې چي ما خپل ځان
یوازي او یوازي ستا په خاطر پاک او سپیڅلی ساتلی ؤ او
زه لکه یوه سپیڅلې او آسماني پرښته، ستا لپاره له ازل
څخه تر ابد پوري ټاکل سوې یم.

نور څه نلرم. یوازي دونه په یاد لره چي ما دي له
خپلو حالتو بې خبره مه ساته او ځان دي په تفریح او
ساعت تیري کي دونه مه غرقوه چي زه او هرڅه درڅخه
هېر سو.

**استفن**

# له استفن څخه ماګډولين ته

ماګدولين! نور په نړۍ کي له تا پرته بل څوک نلرم ځکه زما ګران او مهربانه ورور اوژن چي د ژوند د اميد د بيړۍ يوه تخته وه، هغه و ومړ.

له دې وروسته مي هيله او اميد يوازي ته ئې. هغه پر ما ډير ګران ؤ ځکه د کورنۍ په ټولو غړو کي يوازي هغه زما په طبيعت پوهېدی.

افسوس پر هغه چي په بې وزلۍ کي مړ سو ا و افسوس پر ما چي له هغه څخه د مرګ په وخت کي هم ليري وم، د زنکدن په وخت کي يې سر ته نه وم ناست او د ژوند اخيري اوبه مي نه ورباندي وڅښلې.

اف ماګدلين! په حقيقت کي د هغه د مرګ مسول زه يم. تر دې زيات نسم کولای چي په دې اړه توضيحات در کړم او وړ خو داده چي ته هم زما سره په دې غم کي خواشينې سې او اوښکي را سره توی کړې.

په دې خاطر نه چي هغه زما ورور ؤ بلکي په دې خاطر چي هغه په حقيقت کي يو ښه او خوشاله ځوان ؤ چي د هر چا خوشالي يې غوښته.

غوښتل مي چي د ژوند په پای کي يې ووينم مګر زړه مي نه وکړ ځکه وېرېدلم چي که چيري د هغه ښکلې څېره او موزون قد او قامت ټوټه ټوټه او په وينو لړلی و وينم، هسي نه سکته وکړم.

اي کاش چي په هغه وخت زه هلته نږدې وای چي هغه له آسه لوېدی، زه پر غوړيدلی وای، مرګ مي له هغه ليري شړلی وای او هغه مي د مرګ له وحشي پنجو څخه خلاص کړی وای.

افسوس چي د هغه ژوند په دې نړۍ کي د سهار د ستورو په څېر لنډ وو.

و مي بخښه ګراني چي د غم د خبر په اورولو مي غمجنه کړې. هيله کوم چي و مي بخښې.

**استفن**

# له استفن څخه ماګډولین ته

ماګډولین !نور کار تر کار تېر سو او امید مي په ناامیدۍ بدل سو.

هغه رڼا چي زما تیاره لاره یې راته روښانه کوله نور د تل لپاره تیاره سوه. نن مي راتلونکې لکه د شپې په تروږمۍ کي پیچلې تاو راتاو لاره په ګرد او غبار کي پټه ښکاري.

درې هفتې مخکي مي د یوه دوست لیک راته را ورسیدی.

دا هغه مهربانه او زړه سوانده سړی وو چي د پلار په څېر مینه مي ورسره درلودله. هغه په لیک کي راته لیکلي وه چي لیدو ته یې ورسم ځکه چي ډېر ناروغ دی .

نو ناچاره سوم، د پوهنځۍ رئیس مي د لیک له محتوا څخه خبر کړی او د یوې اونۍ اجازه مي و غوښته.کله چي د هغه کره ولاړم، ومي لیدل چي هغه د ژوند پر وروستیو واټونو ګرځي او را ګرځي خو خیر، هغه زما په لیدو ډېر خوښ سو او داسي یې احساس کړه لکه زه چي یوه اسماني پرښته د هغه دخلاصون لپاره له اسمان را استول سوې یم.

کله چې مې رخصتۍ پای ته ورسېدې نو له هغه مې اجازه وغوښته مګر هغه ډېر راته ټينګ سو چې د مرګ په وخت کې مې یوازې مه پرېږده نو ما هم د هغه د سپین بږیر توب او احترام په خاطر ورسره ومنل مګر تر درې ورځې ځنډ وروسته مې د پوهنتون د رئیس لخوا یو مکتوب تر لاسه کړ چې په هغه کې یې زماله دندې څخه د ګوښه کېدو او زما پر ځای د بل چا د ټاکل کېدو بد زیری راباندې وکړ.

نو ډېر ژر مې د پوهنتون رئیس ته یو لیک ولیکی، ټول مشکلات مې ورته و لیکل او هیله مې ځنې وکړه چې په دې اړه دې یو ځل بیا هم پر خپله پریکړه فکر وکړي.

له هغې خوا مې ځواب تر لاسه کړی چې دا د پوهنتون د ښوونکو د اتحادې پرېکړه ده او نه بدلیدونکې پرېکړه.

نور نه پوهېږم چې زموږ راتلونکې به څه ډول وي. نور مې د مبارزې توان په خپل وجود کې له لاسه ورکړی دی. نور زما حوصله پای ته رسیدلې ده. نور نه ښایي چې تا په انتظار کې و ساتم او د ځان په سزا کې تا راسره شریکه کړم.

دا زما ضمیر نسي منلای چې تا هم د خپل مبهم او ناڅرګنده تیاره راتلونکې پر لور راسره کش کړم. ته تر اوسه ځوانه ئې. کولای سې چې تر ماشتمن او ښکلی څښتن ولرې چې په څنګ کې یې هر ډول خوښۍ موندلای سې.

زه په دې يقين لرم چې ته او ستا سپېڅلی زړه به هیڅکله تاته اجازه در نکړي چې ما یوازې پرېږدې مګر ما تصمیم نیولی دی چې نور تا د تل لپاره پر خدای(ج) وسپارم او د تل لپاره دې ازاده کړم.

وروسته له مرګه به ښايي زه له تاڅخه دونه ليري ولاړ سم چې ښايي ستا به دا هم نسي ياد چې تا د استفن په نامه يو څوک پېژاندی او که يا؟.

کله چې دا لیک ولولې، نو مایوسی ته ځان په پنجو کې ور نکړې. هغسې وکه څنګه چې ما درته وويل. ته تراوسه ځوانه ئې. ته کولای سې چې يوښه کور او کورنۍ رامنځ ته کړې. ته دې راتلونکې جوړه کړه او تېر دې هېر کړه.

زه له اوس څخه ستا لپاره له يوه مړي پر ته بل هيڅ نه يم نو هيله کوم چې ژر تر ژره هر څوک چې مرکه درته کوي، د هغوی مرکه و منه. هغه څوک چې تاته مرکه کوي، د مينې پر اساس يې کوي، نو ته کوښښ وکه چې هغه ته مثبت ځواب ور کړې.

**ستا نااميد استفن**

# له استفن څخه ماکډولين ته

اف خدای(ج) دي ما ووهي!زه څومره کم عقل او لېونی يم!دا څه ډول ليک ؤ چې ما تاته تېره ورځ وليکی؟.زما ګراني ماګډولين!هغه ليک څيري کړه، و يې سوځه. ما هغه څه چې تاته بايد ليکلي وای، و نه ليکلای سوای. ته زما روح ئې، ته زما هستي ئې او ته زما نيستي يې. زه بې تا ژوند نسم کولای. هغه ليک مي د زړه په جوش او د سترګو په اوښکو ليکلی ؤ. هغه ليک زما د زړه درد او د سترګو توښ ؤ. ما غوښتل چې ځان وژنه وکړم ځکه مرګ يوازنی شی دی چې کولای سي ما او تا له يو او بل څخه بيل کړي،نو په دې اساس کله چې دي هغه ليک ولوست نو د يوه مړه سوي سړي د وصيت په څېر يې و انګېره.

وروسته له هغه چې هغه ليک–يا به ښه وي چې و وايم هغه وصيتنامه مي– تاته در ولېږله، زړه مي نور له نړۍ او ژوند څخه پرې کړ او خواشيني يو ځای کښېناستم. کله چې مي هغه دوست زه وليدم نو يې زما د خپګان علت را څخه و پوښتی.

ما هغه ته ټول حقیقتونه بیان کړل. هغه یوه له امیده ډکه موسکا وکړه او و یې ویل:

استفنه ! غوږ و نیسه. زه که مړ وم که ژوندی، ما ستالپاره په بانک کې ستا د پوره ژوند تېرولو په اندازه پیسې درته ایښي دي. له نن څخه وروسته ته نور دندي ته ضرورت نلرې. ته نور د هغو پیسو څښتن ئې. زه په تا پوره باور لرم چې ته د ډېرښه مغز خاوند ئې او ته کولای سې چې په دې پیسو ځان ته ښه کاروبار جوړ کړې .

ماګدولین!نور مي نړۍ بیرته پر خوا سوه. نور زه هیڅ غم نلرم او ډیر ژر به که خدای(ج) کول ستاسو کره ستا د غوښتلو لپاره ستا پلار ته مرکه درولیږم. د لیدو په هیله.

**استفن**

# له استفن څخه ماګډولین ته

ماګدولین! ایا رښتیا دي ماته بدرد وویل او له بل چا سره دي دوستي وکړه که دا یوازي یو خوب او خیال ؤ؟ څنګه دي پر زړه د رحم اوبه نسوې تیري چي یوازي دونه راته ووائې چي: ((د خداي(ج) په امان)) یا دونه تسلي راکې چي زړه مي په پوره سي.

اف! که چیري ته اوس دستي زما مایوسه څېره او له اوښکو ډکي سترګي وویني نو زه په دې پوره باوري یم چي ډېر افسوس به درسي.

ما هیڅکله دا فکر نه کاوه چي زه به دونه بدبخته یم.

ماګدولین! مینه درسره لرم. پر ما رحم وکړه. دا مات سوی او رنځېدلی زړه نور مه ځوروه.

ته خپله په دې ښه پوهېږې چي له څونه کوښښونو او تکلیفونو وروسته په دې توانېدلی یم چي ستا او ځان د اوسېدو لپاره یو ځای او سرو سامان برابر کړم.

ماګدولین! زه دې ته تیار یم چي ستا غلامي وکړم، لکه یو وفاداره سپی دي تل په پښو کي پروت واوسم او له هغه باده څخه ګټه واخلم کوم چي ستا پر ښایسته وجود او نازکو وریښتانو لګیږي.

ماګدولین! زما چیغي اورې؟ زما ژړاوو ته غوږ نیسې؟ مخکي مي زړه ستا سره رازو نیاز کاوه مګر اوس مو یوازي تصورات دا دنده په غاړه لري.

پر ما رحم وکه! پر ما رحم وکه...زه په دې ښه پوهېږم چي ته هیڅکله د دې کوښښ نه کوې چي ما هېر کړې. ته هیڅکله د دې کوښښ نه کوې چي خپله ماضي هېره کړې.

ته زما شتمني ئې. ستا چارچاپېره هرڅه تاته ما در یاد وي.

د دې ښایسته لمر زریني وړانګې پر موږ دواړو لوېږي. دا رنګا رنګ ګلان ما او تا دواړو اوبه کړي دي او دې ونو یو وخت پر ماو تا دواړو یوځای سایه کړې ده.

ماګدولین! ستا زموږ هغه د میني کتني او بانډارونه هېر سول چي د دغو چنارو لاندي مو په ځوړند کټ کي، کله چي د باد د ناوکی ډولۍ وړل کېده، یو د بل په څنګ کي وو، په هغه وخت کي چي د چنار نازکي او پیغلي څانګي هم له خوښیه نڅیدې، ایا ستا هیر سول؟

ای کاش! چي لاس مي د هغه غله ګرېوان ته رسیدای چي زما شتمني، زما هستي او نیستي، زمانن او پرون، زما ماضي او راتلونکې یې راڅخه غلا کړل. ما به هغه د یوې شیبې لپاره هم ژوندی نه وای پرې ایښی.

هو رښتیا، که چیري مي وس درلودای نو ته به مي هم وژلې وای. ما به ته خامخا وژلې ځکه ته د هغه غله سره مله سوې کوم چي زما هرڅه یې و لوټل. ان چي زه خپله یې هم ولوټلم.

هو ما ته وژلې! ولي مي وژلې؟ په دې خاطر چي بدل درڅخه واخلم؟ نه هیڅکله نه بلکي په دې خاطر ترڅو پر مړه سوي لاښ او یخ سوي وجود دي دونه وژاړم چي له ډیري ژړا مي هم هلته ستا په څنګ کي زهره وچوي او په څنګ کي دي د یوه ناکام مین په څیر ولوېږم.

اه ماګدولین! و مي بخښه رحم را باندي وکړه او د خداي (ج) لپاره د لیک ځواب مي راکړه او پر زخمي سوي زړه مي پټۍ ولګوه.

استفن

# له ماګډولین څخه استفن ته

ښاغلې! ډېر شیان دي چې زه او ته يې بايد هېر کړو.

پلار مي هيله راڅخه وکړه چې له ادوارد سره واده وکړم. البته زه دا نه وايم چې د پلار امر مي یو قانون دی بلکي هغه مي پلار دی او زه د هغه په خاطر د هغه دې هيلي ته مثبت ځواب وايم.

او بله عجبه لا دا چې دوستانو مي زما له سترګو د غفلت پردې ليري کړې. هغوی د ژوند د پردو شاته حقيقتونه ماته دانه په دانه را په ګوته کړل او د ژوند څېره چې څه ډول ده، هغسي يې راته ښکاره کړه. دا چې ښه يې وکړه که بد، په دې اړه څه نسم ويلای.

مګر هغه څه چې زه ښه پوهېږم، هغه خبره داده چې نور زما سترګې پرانيستل سوې او زما د ژوند پر اسمان توري وريځې نور له مخي ليري سوې او هيله منده يم چې ډېر ژر ستا سترګې هم پرانيستل سي.

استفنه! زه يو غريبه نجلۍ يم او ته هم چندان شتمني نه لرې. نو ييا ښه به دا وي چې ته هم ځان ته يو

شتمن څوک و پلټې او زه هم ترڅو د ښه ژوند ځښتنان سو.

دا ښه خبره ده چي په ژوند کي احساس او عواطف تر شتمنۍ ښه شیان دي مګر که چیري څوک شتمني نلري، هغه به ژوند څه ډول سر ته و رسوي.

که چیري موږ له یو بل سره واده وکړو نو زه په دې ډاډه یم چي یوه ورځ به د خپلي بېوزلی له لاسه افسوس کوو او بیا پښېماني هیڅ ګټه نلري.

نو استفنه ! راځه چي نور یواځي په یوه بې رنګه دوستي اکتفا وکړو او د ځوانۍ خیالونه او فکرونه نور هېر کړو.

زه تر دې زیات څه نسم ویلای ،ما وبخښه او د خداي(ج) له درباره څخه هیله کوم چي د ښه او خوشاله ژوند څښتن و اوسې.

**ماګډولین**

# له استفن څخه ماګډولین ته

ماګدولین! کوچنی کور چې مور به په هغه کې ژوند کولای تیار سو او ما یې په باغچه کې له سرایه سره ور ګلان او ونې ودرول او تر هغه ځایه چې په وس کې مې ول، زمونږ د هوسائې لپاره مې د کور ټول شیان تیار کړل مګر ته ولاړې. زه دې یوازې پرېښودم او له بل چا سره دې د خپل زړه تړون وکړ. زه دې په نا امیدیو او ناکامیو کې راګیر پرېښودم.

له دې وروسته دا کور تنها سو، ونې ټولې وچې او ګلان یې مړاوي او له منځه ولاړل.

تا ماته بد رد وویل او زما د امید کرلی کښت دې ټول د نا امیدۍ په ناولې لاس وریبی.

اه ماګدولین! ته دا نه حسوې چې زما خیالونه تل لکه سیورې په تا پسې وي او تا لکه خپل سیوري بدرګه کوي. هغه وخت هم چې ته دې د خپل څښتن سره ګرځې.

اې بېوفا او وعده خلافه ښځې! زما ژوند او زما نېکمرغي بیر ته ماته راستنه کړه...

کلونه کلونه مې ستا په یاد شپې او ورځې تیرې کړې. تکلیفونه او زحمتونه مې یوازې ددې لپاره وګالل چې تا ته نېکمرغي در په برخه کړم. ما مې له مور، پلار او کورنۍ څخه

يوازې ستا په خاطر مخ واړاوه. ما ستا په خاطر خپل د ځيګر ټوټې
ورور ته پيسې پر وخت وانه ستولې او هغه ومړ. د هغه قاتل زه وم
خو ستا له لاسه.

مګر تا دې ټولو ته په سپکه ستر ګه وکتل او هغه ټول
دې تر پښو لاندې کړل. زه اوس لکه يو سر ګردانه مسافر چې په
لويه دښته کې ځې لاره ورکه کړې وي، سر ګردانه پر يوه او بله خوا
ځغلم، نه کومه ونه سته چې تر سيورې لاندې يې دمه وکړم،نه
کومه چينه سته چې زه مې د سينې اور وربانديې مړ کړم او نه کوم
لاره چې ځان له دې ناولې دښتې ښخه وباسم.

افسوس پر ما چې ځونه يوازې سولم ،هيلې مې ټولې تر
کاڼو لاندې سولې او اهداف مې ټول له منځه ولاړل. نور پر ما ټولې
لارې تړل سوې دې مګر پر ته له مر ګه،مګر مر ګ؟.خدايه(ج)،ژر
مې اجل راولېږې.

استفن

# له ماګډولین څخه استفن ته

ښاغلې!ستاسو دردونکی او غمجن لیک مي و لوستی. دونه متاثره سوم چي ناڅاپه مي و ژړل. ما ستا پر ورکو سوو ارمانونو، بایللو هیلو او تنهایۍ ډېر وژړل مګر څه وکړم؟ تقدیر همداسي ؤ.

استفن! مینه یوه ناروغي ده چي هوښیاران خلګ هغه د ځوانی اور بولي. له نېکه مرغه چي زه له دې ناروغی څخه جوړه سوم او هیله منده یم چي ته هم ژر له دې ناروغی څخه خلاص سې مګر په دې شرط چي خپله د خپلي تداوی لپاره راولاړسې.

څونه مینه چي راسره لرې، کوښښ باید وکړې چي هغونه نفرت را سره پیدا کړې. ته باید کوښښ وکړې چي نور موږ یو بل و نه پېژنو ځکه زه اوس د یو چا میرمن سوې یم او ته باید پوه سې چي د یوچا میرمن کیدل څه مانا لري. نور زه ټول د یو چا ملکیت یم چي د هغه د اجازې پر ته بل هیڅ نسم کولای.

استفن!زه ستا څخه یوه هیله کوم. هیله ده چي هیله مي ومنې. نور ستا کار دي نه پوهیږم چي هیله مي منې که یا؟.

ماګډولین

# له استفن څخه ماګدولین ته

اې زما د امیدونو او خیالنو شتمنۍ! تا دي ماته خپله هیله نه ده لیکلې ؟ ته څه هیله لرې؟ ووایه چې څه هیله کوې؟.

زه څه کولای سم چې ستا لپاره یې وکړم .اه ماګدولین! کاش چې تا زما څخه زما روح غوښتلای چې ما بیله ځنډه تر تا قربان کړې وای. خدای(ج) شاهد دی چې زه دونه له دې څخه په عذاب یم چې هره دقیقه دې ته تیار یم چې روح مي خداي(ج) ته و سپارم .

ژر یې راته ولیکه !څه غواړې؟ څه هیله لرې؟ ما پرېکړه کړې چې ته هرڅه هیله لرې، زه هغه تر سره کړم.

استفن

# له ماكډولين څخه استفن ته

استفن ستا په ياد دي ما يو وخت تاته ويل چي دونه مينه مه راسره کوه، يا به ځان په ډېره مينه مړ کړې يا ما.

زه پر حق وم. تا پخپل ليک کي ماته ليکلي چي تا يو داسي تصميم نيولی دی چي ما هيڅکلهددې فکر هم نسوای کولای.

ته فکر کوې چي پخپل دې ناروا تصميم خپله مينه پای ته و رسوې؟.

دا سمه خبره ده چي ته به د ځان په وژلو ځان له دې غمه څخه بې غمه کړې مګر تا زما په اړه فکر کړی دی. ايا ته فکر نه کوې چي ستا له مرګ وروسته زما د ژوند هره لمحه له يوه تدريجي مرګ څخه پرته بل هيڅ شی نه دی ؟.

کچيري ته د دې دعوه کوې چي زما سره مينه لرې نو بيا ولي زما خوښي خپله خوښي نه بولې؟.

ته چي دونه زما د ميني او پر ما د مهرباني لاپي وهې نو بيا ولي په ځان وژنه زما ژوند له غمونو او پښېمانيو څخه را ډکوې.

استفن! زه يوځل بيا تاته د خپلي بې رنګه دوستۍ وړانديز کوم او هيله منده يم چي زما دوستي ومنې.

زه فکر کوم چي دوستي تر ميني او عشق ډېره قوي او زوروره خپلوي ده.

ما اورېدلي دي چي ته د ادوارد غټ دښمن ګرځېدلی ئې او ځوځله په تندۍ ورسره مخ سوی هم يې.

ايا د دې قول راکولای سې چي نور به له هغه سره کار نلرې او مزاحم کيږې به يې نه؟

اه، استفنه! دا زما هيله او ارزو ده ستا څخه. که چيري دا قول را کړې نو به ډېره درڅخه خوشاله سم او ستا د ځان ښندنه به تر هيخ وخته هېره نکړم. د ځواب په تمه دي يم.

**ماګدولين**

# له استفن څخه ماګډولین ته

ماګډولین! راته لیکلي دي ول چي له هغه زیري چي خپل زړه ته مي ورکړی دی تېر سم او پرېږدم چي ته مي هېره سې څو خپل حریف مي په بې خارۍ سره خوشاله ژوند وکړي او ستا په څنګ کي په خوښۍ او خوشالۍ وخت تېر کړي. هیله دي کړې ده چي د هغه کس چي زما شتمني او زما ژوند يې راڅخه غلا کړي دي، احترام وکړم.
ډېر ښه، چي ستا داسي خوښه ده زه هم څه نه وایم او هغه څه چي ته وائې هغسي کوم. ادوارد ستا په منځګړیتوب زما له انتقام څخه خلاص دی،ستا په خاطر هغه ته هیڅ نه وایم او هیڅ هم نه ترې غواړم.
په دې شرط چي هغه تر وسه وسه ستا په خدمت کي کوښښ وکړي او د ژوند یوازنۍ هیله يې ستا خوښي او خوشالي وي.
که چیري یوه ورځ پوه سم چي هغه ستا سره سمه رویه نه کوي نو ته بارو وکړه چي زه به په هغه ورځ له ده سره خپل ټول حسابونه پاکوم او که هر وخت مي واورېدل چي ته هغه ژړولې ئې او یا ستا په سترګو کي د هغه له لاسه اوښکي

راټولي سوي دي، نو بيا دي بايد ياد وي چې هغه به زما څخه د ژوند څکه هم وه‌نه کړي .

ماګدولين! زه ستا د ويلو په خاطر ځان وژنه نه کوم مګر هر وخت که مې سوم پوه سه چې د ميني اور زه ووژلم.

زه يوازي ستا په خاطر غواړم چې مرګ په خندانو شونډانو استقبال کړم.

ستا د ښه ژوند په هيله

**استفن**

# له ماکډولین څخه استفن ته

استفنه افرین!

افرین ستا پر ځوانۍ او سر ښندنه! له لیکه دي پوه سوم چي ته هم نور د رغېدو په حالت کي ئې. په څو ورځو کي به ته هم په دې پوه سې چي دوستي تر میني ډېره ښه ده.

ځکه دوستي ورځ تر بلي ټینګیږي او مینه ورځ تر بلي زړه کیږي، سړیږي او تېرېده لري.

استفن! زه ستا څخه یوه بله هیله هم لرم مګر دا هیله مي پر زړه او عواطفو پوري تړلې هیله نه ده بلکي غواړم چي ستا شرافت او انسانیت وه ازمویم.

تقدیر خو داسي فیصله وکړه چي زه دي د ادوارد میرمن سم مګر څنګه چي زما ډېر لیکونه ستا څخه دي، نو کېدای سي چي زموږ نکاح په سمه توګه و نه تړل سي. فکر و نه کړې چي زه پر تا بدګمانه یم او له دې وېرېږم چي ته به یوه ورځ هغه زموږ پر خلاف استعمال کړې بلکي زه نه سم کولای چي د دغو لیکونو په شتون کي د خپل څښتن سره د وفاداره اوسېدلو ژمنه وکړم. پوهېږم چي زما دې هیلي به ستا د سینې اور یو ځل بیا په

غرغنډو کړی وي مګر ته فکر وکړه او یوه ورځ وروسته زما د لیک ځواب راکړه .

ځکه ته باید په دې اړه له ډېره فکره کار واخلې.

ښایي ته دې فیصلې ته ورسیږي چې دا ځوانمردي ده چې یو راز راز پاتې سي او زما د یو امانت په څېر یې ته درسره خوندي کړې.

نور ته خپله ښه پوهیږې

ماګډولین

# دمیني ژړه

**جرس فرهاد**

موده سوه تیره چي هیر کړی دي یم
موده سوه تیره چي مي نه پېژني
وختونه وسوه چي دي یاد کي نه یم
زما راتلو ته اوس په تمه نه يې
اوس دي په بل چا پوري زړه تړلی
اوس دي د زړه په کور کي بل اوسيږي
او س دي رازونه دي په نورو شریک
اوس دي دزړه په هغه پراخ جهان کي
زما لپاره زره ځاي هم نسته
خو مګر اوس مي لا هم یاد کي ته يي
خومګر اوس هم ستا خیالونو کي یم
اوس لاهم ستا د ښو اواز ته غوږ یم
اوس هم له تا د راتلو تمه کوم
اوس هم دورځي په لس ګونه ځله
د موبایل پر سکرین نظر تیروم
چي ګوندي ستا پیغام راورسيږي
چي ګوندي ګوتي دي ناپامه غوندي

زما شمېرې ته یو مسکال راکړي
ګوندي چې بیا به ستا اواز واورمه
ګوندي چې بیا به مي زړګی ارام سي
خومګر زه اوس دومره بخت نه لرم
خومګر اوس دي زه هیر کړی یمه
خو مګر اوس مي بیخي نه پېژني
اوس دي یادونو کي هم نه راګرځم
خو کاش چې تا ته يې هم زما پشاني
له میني ډک زړه واي در کړی مالک
نو بیا به ولي سره لیري واي موږ
بیا به مو ولي سره نه لیدلای

# دمر غلرو امیل

## جهاني

دپسرلي په یوه ښکلي سهار
چي غوړېدلې وي پر مځکه دمستیو لمن
چي دخزانه بیخبره بلبل
زموږ دکړکۍ مخي ته
په نازولو په نازکو په بیصبره پنجو
دسروغوټیو ګریوانونه څیري
دپسرلي په یوه ښکلي سهار
چي شیخ پري ایښې وي دذکر کیسه
چې دزاهد پر شونډو ګرځي دخیام ترانې
په مرغلینو څاڅکو
پرخي پریولي وي غاټول اوګلاب
زه به راځم او ستا په غاړه کې به هار اچوم
هغه چي تل دي غوښتی
هغه چې ډیر دي خوښ و
ستا دخوبونو ستا دهیلو امیل
پر سپین باړخو به دي راتوی سي له خوښیه اوښکي

دانه دانه به رغړي
غیږبه دي وغوړیږي
مابه دربولې ځنګ ته
خوښي او بیره به دي پاځي له خوبجنو سترګو
خوښي دسپینو مرغلرو دهار
اوخوښي زما دلیدو
بېره مرموزه بېره
دبیلتانه خبري
دجدایۍ اندیښنه
غیږبه دي وغوړیږي
مابه دربولې ځنګ ته
خوزه به لیري یمه
دتندربږغ به دي راویښه کي له خوبه څخه
او زما پر قبربه باران اوریږي.

# او زه له تاانه پرته !

**(دا هغه شعر دی چي یوه نومور کي ایراني شاعر په خپله مینه کي تر ناکامۍ وروسته دخپلي ځان وژني ترمخه خپلي بې وفا میني ته لیکلی ؤ).**

**ژباړن**

ستا څخه پرته
دی ژوندون مي زهر
مګر له تا سره هم
ګراني چي زه اوسېږم
دا هم په خپله اور دی
له تانه پرته
په بل څه فکر کول
خو هیڅ امکان نلري
مګر دا ستا په څنګ کي
چي زه اوسېږم کله
دا به نو خوب وي ګراني
تا به دا تل ویله
چي زه به هیر کړمه تا
مګر په وس دي نه و
او زه دي نه کړلم هیر

تا به دا هم ویله
ښايي چې زړه مې
نظرانه کړمه چاته
مګر له مانه پرته
تا بل پيدا نه کی څوک
تا به دا تل ويله
چې ښاي هيره مې کې
مګر په وس مې نه و
او اوس له دې نه پرته
څوک مې کافر وبولي
غواړم چې دا وه وايم
تا به وماته ويل
پاس داسمان په لوري
لاس پورته که
خدای(ج)بې پخپله نيسي
مګر هغسې نسو
ښايې چې خدای(ج) به هم
نا راز وي له ما
ځکه!
زما هسکه سوي لپه
له هاخوا تشه راغله

په دې نو وپوهېږه
که نن محروم یم
زه دا ستاله لیده
دا به ثبوت ته دجفانه بولې
وفا خو دې ته وایي
چې نوم دې تل زما پر ژبه ګرځي
ته مې په فکر کې یې
ته زما دخیال میلمنه
داسې هم نه ده ګراني
چې ته په شپو کې یې زما
بلکې پخپله دا ته
ته زما شپه یې ګراني
او زه چې تالرمه
زه نو بل دوست څه کوم
او ترقیامته پوري
ښایې تالیري نه کم
زه مې له خپله ځانه
که په نصیب مې نه سې
خوبیاهم زه به
له ماښامه ترسهاره پوري
ستاله یادو سره یم

په خداي(ج)مشکله ده دا
چي زه به تا شړمه
دخپل یاده له کوره
کاشکي چي ځنګ تر ځنګ وای
لاس دي مي لاس کي واې تل
کاش په دې ته پوهیدای
چي مي یادیږې څونه ؟
بس اندازه يې بوله
دغه زموږ تر منځه
پولی واټن چي پروته دی
کاش چي په دې پوهیدای
چي داسکوت به
ان تر کمه وي نور
کاش چي ویلای دي سوای
چي زموږ دهیلو غوټۍ
به کله ګل سي ګراني
کاشکي چي داسي کیدای
دا فاصلې مو ټول له منځه تللای
او ته له مانه پر ته ؟
زه به په کومو ځمکو
دا ستا په لټه کي یم

او زه چې یم
بس یم په شان
دیوې شنډې ونې
چې وې خزان وهلې
او ته پوهېږې په دې
چې د سینې دننه
زما زړګې هم وچ دی
زه په دې فکر کوم
ایا رشتیا د تیښتې لاره نسته
له دې واټن او پولې
او زه اوس فکر کوم
چې زه له تا نه پرته
او زه له تانه لیرې
به ننداره د دغه ښکلې اسمان
له کومه اړخه کوم
او زه اوس فکر کوم
چې زه له تا نه پرته
او زه له تانه لیرې
ایا ژوندې به او سم
او زه تر اوسه پورې
ګرځم ځواب لټوم

د دي زوي مړي سواله
چي په رشتيادي درواغ سوي
هغه ټول خوبونه
چي ما په ويښه ليدل
او اوس؟!!.
ګاهي اسمان
ګاهي جانان ته ځغلم
چي سم مايوسه له دوی
نو بيا
سم سر پر زنګون
سم په سوچونو کي ورک
ته راسره يې ګراني
مور، يوې خواته درومو
دلته دخلګو سي رافکر ماته
څوک ليونی
څوک کوڅه ډب مي بولي
څوک خو چرسي څوک بيابنګي مي بولي
ځيني پيداسي داسي
ماته را وګوري چوک چوک وکړي
کله خو داسي وسي
چي کړمه منډه په يوبل چا باندي

پر مي ګمان ستا راسي
دلته نو خلګ په راز ټوله پوه سي
زه يې ږغونه اورم
واي چي دا بي چاره
بس ليوني دي دچا
او دچا ميني دي
ټا کلي دلته
ګرانې پوهيږ.مه نه
چي دا تقدير وبدرنګ
او که و ستا برخليک

# زړه ته مې کوږې تاسې

زړه مې ناپوه دی ځونه
دالیونی دی لکچې؟
پر هغه چا دی مین
د چا له لاسه لېونی چې دی دی
هغه چې دی یې ژړولی دی ډېر
هغه چې تل یې زخمي کړی دی دی
دی دی مین پر هغه
ځوک خو پیدا سې دا سې
چې دا زخمي زړګې ته
کومه چاره یې زده وي
ځوک دې راوښوي دا
چې دا زخمي زړګی قانع کم ځنګه
ځونه مجبوریم زه
څرنګې پوه کمه زه
د چا د مینې له خاطره چې مري

ها بې وفاده دونه
یو داسي زخم یې ور کړی ده ته
هیڅ چې دوانه لري
داده عجبه ډېره چې زه ژړلای نسم
ځکه ډار پېږمه له دې
چې به دادرسته نړۍ
را پوري وخندیږي
او زه ډار پېږم په دې
چې به رسواسي زما ګرانه مینه
او زه په دې ویرېږم
چې زما په ماته مینه
به پېغورونه را کي
دا بي خبره نړۍ
ځکه چې دوی په مینه نه پوهیږي
څوک دي نو زما زهیر تیا هم وګوري
ستر ګي له اوښکو لندې
زړه مي له غمه ډک دی
مګر پر دې سر ییره
تل مي د شونډو مېلمنه وي مسکا.

## یوه پوښتنه لرم د عالمو څښتنه!

خدایه دا مینه دي پیدا کړه ولي
چي بیا پیدا دي کړله
نو دي په څنګ کي دا بیلتون څه کاوه
په څه دي ماته را کړه
دې ته مي اړه څه وه
زما بربادي کي
ستا حکمت نو څه وو
زه مي له ژونده راضي
لاره مي ښکلې لیده
تا راته لاره کي ځوزان وشیندل
ژوند مي سو ټوله بس
دغم سر چینه
خدایه بخښنه غواړم
چي زه پوښتنه دا د ولي کوم
زه خو بنده یم عاجز

## دا سي نور مه را ګوره!

(تـــــاتـــــه)

داسي نور مه را ګوره
نه چي مين دي سمه
و پرښتو ته ورته
ستا خندا ګاني چي دي
دادي له موږه جلا
نه چي بي هوښه سمه
بس ده نور مه راګوره
ته خو هغه ئې ګراني چي
زړه زما يې غواړي
داسي ګمان کومه
چي ته مي روح ئې ګراني
راځه چي يو وجود سو
دا فيصله به وکړو
چي به بيلتون نه منو
دا اداګاني هم ستا
دي بس له ټولو سيوا

پاي

Ketabona | کتابونه
WWW.KETABONA.COM

له کتابونه ډاټ کام انلاین کتابتون څخه په وړیا ډول
په ډېره آسانه بڼه صفاء هراړخیز کتابونه ډاونلوډ کړئ!

www.ketabona.com



@Ketabona www.ketabona.com info@ketabona.com

TALK TO US
+93 767 616767
info@Ketabona.com